contents translated 24/2/44

کابل

TRANSFER
2
JUN 24 1944
Serial Record Division
The Library of Congress
Class

۱۵۶

وئې وایاست :

(۱) د پښتو پخوانی ادب څنګه و ؟ (۲) خیال

(۳) د مېر منو اشعار (٤) شعری سرقې

(٥) زمونږ نړی (٦) جروم

پسرلنی مشاعره

دپسر لی ښکلو نکی بیا کړه سنګارو نه
بیا ئی ولو نل په غرو نو کښې لا لو نه
(ښکار ندوی غوری)

یوه میاشت وروسته نوی کال راځی ، او دکابل دمجلې نوې کال هم ورسره شروع کېږي ، ځکه چه د پسرلی په زړه پوری موسم دی ، نو غواړو چه خپل خوازه د ژمی ملګری د پسرلی د ګلونو سیل ته هم را وبولو . یعنی یوه پسرلنۍ مشاعره وکړو د مشاعرې دپاره د مرحوم ښکار ندوي غوری لوړه مطلع طرح شوې ده ، او مقصد دادی چه دا مشاعره دقدماوو پرسبك په بو لله (قصیده) کښې وی .

د قدماوو دسبك څخه مطلب د دوی دتو لو ادبی مزایاؤ رعایت دیء، دې ګرانی او مهمی مشاعرې ته د او سنی شعر ستوری ښاغلی مجروح، ښاغلی بینوا ښا غلی الفت، او نور و رو نه را بو لو ، قصا ید با ید د حمل تر لمړی ورځی د مخه را ور سېږی . (حبیبی)

(۱۳) کال حوت ۱۳۲۲ (۱۲) گڼه

کابل

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : گل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې مېمر
او دصحافت مدیر
پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل ؛ پښتوټولنه
ټول لیکونه ع،ص عبدالحی خان «حبیبی» دپښتو ټولنې عمومی مدیر اودمطبوعاتو دمستقل ریاست معاون ته کېږی

اشـــــــــتراك

کابل :	۲٤ افغانی
دننه مېنه :	۲٦ «
دباندی :	۱ سترلنگ پوند
دښوونځو زده کوونکی ته	۱۲ افغانی

ددی ګڼی لیکو نکی

لیك	لیکونکی	مخ
دپښتو پخوانی ادب څنګه و ؟	ښاغلی «حبیبی»	۱
خیال	« «الفت»	۳
بی وزلی یوهان	د « «نظامی» ترجمه	٦
دمېرمنو اشعار	له پټی خزانی څخه	۷
ښه نوم	پیر محمد «کاکړ»	۸
کړې	«کاظم خان شیدا»	۸
نیسم	«علیخان ختك»	۸
ولګاوه	« «	۸
غزل	میانعیم «متی زی»	۹
بویه	رحمان بابا	۹
درحمان بابا دبدلی تخمیس	ښاغلی «طالب»	۱۰
هوښیار او بېدای	« «الفت»	۱۱
له ځانه شکوه	« عبدالرئوف «مخلص»	۱۲
غزل	« «سلیمی»	۱۲
د ګلو سره	د « «سیفی» ترجمه	۱۳
شپې ته	« « «روښان» ترجمه	۱٤
شعری سرقی	ښاغلی «رشتین»	۱٦
د پښتو ادب اقتباس	« «نوری»	۲۰
دنوروژ بود کلماتو استعمال	« «ایازی»	۲۳
ز مونږ نړی	د « «سیفی» اقتباس	۲٦
تاریخی یادونی	« «حبیبی»	۳۰
د لسمی پېړی علماء	« «خوګیانی»	۳۲
ولیم ملك دوګل	د « «سیفی» اقتباس	۳۵
د میلادیه اختر کښې	« « «واسعی» ترجمه	۳۹
د اریانا دوهم کال	د «صحافت خانګه»	٤۵
ما ګدو لینه	د ښاغلی «بینوا» ترجمه	٤٦
له هری خوا	« « سیفی ترجمه	٤۸
پښتو تو لنه څه کوی	پښتو تو لنه	٤۹
فکاهیات (خر)	د ښاغلی ج آریزوی ترجمه	۵۰
عکسونه (۳) قطعې		

ادبي پلټنې:

دپښتو پخواني ادب

څنګه ؤ ؟

(٤)

(٦) دتخيل نوی توب اوسلاست

ښاغلی «حبيبي»

شاعری دوې خوا وی لری ، چه کمال او لوړتيائې له دغو دو و پلوو څخه ښه زياد ولای شوای .

يعنی که وغواړو چه ديوه شعر ښه والی او لوړتوب او دشاعر کمال ئې څر ګند کړو، نوهغه شعر ته له دوو خواؤ څخه ګور و :

لمړی خوا دشعر معنوی جنبه ده ، چه تل د شعر باطن او مفهوم ښکلی کوی ، دفکر او تخيل په بداعت، او د مفهوم په متانت ئې آرا سته کوی، د معناښې ښې ګېڼې په اغوندی ، اوپه داسی پسول ئې مزين کوی چه له ليری دخلقو نظر ځانته را جلب کړی .

دوهمه خوا: دشعرمادی جنبه ده يعنی سلاست او روانی چه دشعر دپاره لکه معنوی خوا هغونی ضروری ګڼله کېږی !

ولی عالی مفهوم او ښکلې معنا اوښه تخيل چه هر څونی په ساده الفاظو اوروانو جملو او په زړه پوری ډول اداشی، هغونی هم خواږه وی، اودويونکی ذوق اوادبی احساس خوځوی، او اغېزې ئې هم داسی وی، چه کورټ نه فنا کېږی .

رشاقت اوعذوبت دشعر روح دی، اوبېله دې پرهر نظم دشعر نوم نشوايښو ولای .

په دنيا کښې ډېر موشګافان او خورا مقتدر شعراء تېر شوی دی ، چه دتخيل اولوړو مضامينو له پلوه ئې اشعار خورا خواږه او دخلقو خوښ دی ، مګر چه دد وی داداء طرز او الفاظ او جملات د غوټو اوتعقيد اتو ډک دی ، نوئې اشعار په هغه اندازه چه بايد مقبول وای، عام قبوليت ئې ندی مينډلی .

دمثال په ډول په پاړسی کښې دخاقانی اشعار دمعنی له پلوه ډېر لوړی دی ، مګر الفاظ اوعبارات ئې دونی غوټی او لوړی ژوری لری ، چه سړی ورته اريانېږی ! مګر په هغه ژبه کښې د حافظ او سعدی کلام داسی عذب اومليح اوسحر حلال دی ، چه سړی ئې وايی په خوندی ئې نه مړېږی !

داڅه دی ؟ علت ئې دلمړنی د کلام مغلق توب اوګرانوالی دی ، اود ورو ستنيو وينا روانه سليسه اوداسی خوږه ده چه هر څوك خوند ځنی اخيستلای شی .

دشعر دسلاست معيار څه شی دی ؟

ددې پوښتنی په ځواب کښې بايدووايو ، چه هر ژبه ځانله دتعبير لار اودمحاورې اصول لری ، فصيح او بليغ کلام هغه دی . چه دژبی پردغو معياری اصولو برابر وی ، يعنی دژبی له فصيحی اوادبی محاورې اوتعابيرو څخه ليری نه وی !

دشعر په ژبه کښې تعقيد ، ابهام، غوټی ، خنډونه بايد نه وی ، اوپه داسی ډول مقصد وويل شی ، چه دژبی خپله فطری خوږ تيا له لاسه ونه وزی ، او هم دژبی فصاحت اودکلام سلاست خوندی شی .

په پښتو اشعارو کښې څو شعراء لرو، چه دشعر مادی خوائې تر معنی قربان کړيده، يعنی دوې کوښښ کړی دی چه دپردو اشعارو په تعقيب او پيروی دتخيل پر لوړو غرو پروازو کړی، مګر دخپل تخيل تعبير ئې په داسی ډول کړی دی ، چه دژبی سلاست او روانی او خوږ توب ئې له لاسه ايستلی دی .

مهمند حمید او شیدا خټک دا یشیائی شعر دهندی سبک په لوړو ژورو کښې لو یدلی، اودوی غو ښته چه دهغه سبک په ډول په پښتو اشعارو وایی، دواړه تر یوه ځایه کامیاب شول، مگر دوه څیزه ئی له لاسه وایستل:

۱- هغه روانی اوعذوبت چه دخوشحال خان یاعبدالقادر خان یارحمان بابا په کلام کښې وو، ددوی په وینا کښې نه میندل کیږی.

۲- د پښتو کلمات او لغات ئې له منځه وکښل پر ځای ئې پارسی تعابیر او کلمات په شعر کښې داخل کړل، شیدا په دی مرحله کښې هسی افراط وکړ چه دخپل شعر خوند اوقیمت ئې پکښې بایلو. د پښتو ژبی پخوانو شاعرانو لکه شیخ متی، بیټ نیکه، خرښبون اسماعیل، ملکیار، اسعد، ښکارندوی، زرغون خان اونورو ټولو دژبی عذوبت اودکلام سلاست اود شعر روانی او بساطت درلود، ددی خبری دښه څرگندولو دپاره لاندی مثالونه کتلای شوای:

خرښبون بابا وایې:

بیلتانه ناره می وسوه په کوربا ندی
نه پوهیږم چه به څه وی پیښ په واړاندې؟
له خپلوا نو به بیلږم به سرو سترگو
دواړه سترگی می په وینو دی ژړاندی!

شیخ متی علیه الرحمه پخپل مناجاة کښې وائی:

په غرو کی ستا د عشق شپیلکی دی،
د دې نړی په عشق سمی دی،
که غټ که ووړ، که پنډ، نری دی،
ستا د جمال ځرې هر شی دی،
چه پر دنیا می سترگی پری سوی
ستا د جمال په نندارې سوې
(پټه خزانه)

دقدماو د کلام دغه ښېگړی تل د پښتو دلویو شعر او په کلام کښې لیدلی کیږی، او دا ادبی ناموس خوشحال خان اورحمان بابا ښه خوند کړی دی.

مناً خرینو هم تل زیار کیښ، چه د پښتو شعر دامزیت له لاسه ونه باسی، اود کلام د تعقید او ابهام په پټ ځان اخته نکړی.

د پښتنو دملی مشر مرحوم حاجی میرویس خان مور مېرمن نازو توخی دپښتنو مشهوره شاعره ده، ددې د کلام یوه نمونه چه راڅخه سته، اودپټی خزانې مؤلف ئی را نقل کوی، دسلاست اولوړ تخیل یوه بدیعه نمونه اوحقیقتاً ادبي شهکار دی:

رباعی

سحرگه وه د نرگس لیمه لا بده
څاڅکی څاڅکی ئې له ستر گو څڅیده
ماویل څه دی کښلی گله ولی ژاړی؟
ده ویل «ژوندمی دی، یوه خوله خندیده»

دارباعی دپښتو شعر معنوی اومادی مزایا دواړه لری، عبارت اوکلمات ئې خوازه تعابیری ئې سم او پر ځای دی، د تخیل بداعت هم پکښې څرگند دی.

دمېرمن نازو دقیمت دار شعر له امیله فقط دا یومر غلره اوس مونږ ته پاته ده، کلونه تېر شول، پېړۍ ولاړې، هډونه خاوری شول، ښارونه وران او نور ودان شول، زمونږ پروطن دنادرافشار چپاوونه تېر شول، وروسته داحمد شاه نورانی دوره راغله بیا هغه دسعادت ورځ تیاره شوه.

کلونه کلونه دغه مرغلره دمحمدهوتک علیه الرحمه په پټه خزانه کښې پرته وه، چانه لیدله، دوه نیم سوه کاله وروسته په هند کښې یواو رژبی شاعراوفیلسوف پیدا شو، دی دحیات په راز خبر، اودملت اومشرق په خوږ خوږ من ؤ، داروپا دفلسفی په کږووږو کوڅو کښې وگرزېده، دلویولویو پوهنتونو درسونه ئې ولوستل وروسته دقرآن په روښانه دنیا کښې ځیر شو، اسلامی فلسفه ئې ولوسته، نوئې وویل:

شبی زار نالید ابر بهار
که این زندگی گریهٔ پیهم است
در خشید برق سبک سیر وگفت
خطا کردهٔ خندهٔ یکدم است

«مرحوم علامهٔ اقبال»

علم، بصیرت، پوهنه دبشر مشترک مال دی، کله علم د اروپا دلوړو پوهنتونو په جگومانیو کښې وی، کله هم دترنگ پرغاړه دپښتنو په یوه کوچنی کلی کښې چه له دې ځایه نازومېرمن راوزی اودحقیقت زغ لوړوی، اوله هغو مانیو څخه علامه اقبال غوندی فلاسفه!


اجتماعیات

خیال

ستاد خیال رنها کښې ماته حقیقت شو څرګند
فیلسوف خوشی پیروی د دلایلو کوی

گل پاچا «الفت»

دخیال کلمه که څه هم دخپل اصلی مفهوم په لحاظ دعامو خلقوله پوهې ډېره پورته ده مگر د عوامو په محاوره کښې هم ډېره زیاته ارویدل کېږی ، څوك وائی زما خیال دی چه سبا ښارته ولاړشم ځینی وائی فلانکی له ډېره خیاله چاته نه گوری په هیچا خیال نه راوړی تاماته دچا خیال کړی، خیال می راځی چه دا کار به سرو نه نیسی ، دا خیال به دی خدای نه ترسره کوی دا سړی ډېر ښه ښه خیالات لری ..... له دغسی مختلفو محاورو څخه دا پته لگېږی چه خیال ددوی په خیال متعدد دی معنا گانی لری چه اراده، غرور، فکر، گمان پروا یادا راز نور مفهومات ورځنی فهمېږی مگر هغه خیال چه یو عالم ئی پېژنی یا ئی یو شاعر لری هغه یوه پټه او معنوی قوه ده چه غیر له واقعاتو او محسوساتو څخه نور شیان وینی او دا نسان په ژوندانه کښې ډېر دخل او قوی تاثیر لری .

که چیری انسان د خیال قوه نه درلودلی او بی له محسوساتو ئی نور څه نه لیدلی هر گوره به دغسی نه و او دغه اوسنی وضعیت به ئی نه درلود یعنی نه به ئی دین او مقدسات پېژندل او نه به ئی په غیبی حقایقو ایمان راوړی و، همدغه خیال دی چه دعقل او فکر مانی پری

«پاته د ۲ مخ»

مگر مقصد یووی، او دبشری ذهن دادراك او پوهنې مشعل هم له یوه مرکزه رنها اخلی ، او له یوه نوره استناره کوی! خپل مقصد ته بیرته ور گرزم دتخیل بداعت او د کلام سلاست دواړه په پښتو پخوانو اشعارو کښې موجود وه او ددغو ښېگړ، یو مهم مثال دغه د پښتنې مشهوری مېرمنی یوه رباعی ده، چه ما د مثال په ډول ستاسی د کتنی دپاره راوړه.

دپښتو پر پخوانی ادب چه ماڅه ولیکل، څېړنه ئې اوږده شوه او دائې څلرمه برخه ده، مگر د شاعرانو په اصطلاح دا سلسله دزلفو په ډول اوږده ده، او تر اوسه هم لا هم ډېر دویلو او لیکلو وړ څیزونه پاته دی .

که ښاغلی ویونکی اجازه کوی، دغه مقاله به پر دغه ځای ختم کړم ، او نور مطالب به تر نورو عناوینو لاندی په آینده کښې چه فرصت و مومم ولیکم ، تر بلی میاشتی پوری می پر خدای سپارلی یاست .

ولاړه ده اودانسان دمعنوی اوعرفانی موجودیت اساس پری قایم دی که ځینی کسان خیال یو وهم بولی پائی دعقل ضد اومقابل گڼی هغوی باید لږ څه سر په گریوان کښې ښکته کړی او وگوری چه هغه علوم چه عقل پری اذعان کوی لکه ریاضیات هغه هم د خیال محصول بلل کیږی اوله همدغی چینی ئی او به څکلی که چیری له یوه ریاضی دان څخه د (واحد) تعریف وغواړو چه دټولو ریاضیا توابتدا او انتها گڼل کیږی یادهندسی له یوه عالم څخه (دنقطی) پوښتنه وکړو چه ټول خطوطو رځنی پیداشوی اوا خطوطو څخه بیا طول وعرض و عمق یعنی مقائیس ثلاثه پیداشویدی نویقین دی چه دا دواړه شیان به داسی راوښئی چه بی له خیاله به بل وجود نلری .

په کومه لاره چه خیال تللی شی او ځی هلته عقل دړند و په شان امسا ټکوی اوڅه نه وینی مگر خیال دعقل په کوڅو کښې هم په ښه شان گرزیدلی شی اود عقل سایق کیږی په عقل کښې ذوق ، سلیقه او نشاط پیداکوی له زړو نوڅخه افسردگی وړی په فکر کښې تغیر اوتبدیل راولی که سړی لږ څه ځیر شی دغه د صحرا کانی چه مونږ ئی دحس اوعقل په مرسته په حجریت اوکا نیتوب پیژنو دا هم په حقیقت کښې د انسان دخیال اثر دی چه دتحجر اوتجمد صورت ئی ورکړیدی وروسته تردی چه مونږ خیال په هغه اهمیت چه خدای ورکړیدی پیژنو اود حقیقت ریبار او یو نافع عنصر ئی بولو چه هیڅ فرداو هیڅ ملت ورځنی نشی مستغنی کیدلی غواړو چه دخیال په نوعیت دخیال په تقویم او وېښوالی څه وو ایو چه له ځینی هوائی خواهشاتو او امانیو څخه ئی فرق و شی ځکه چه ځینی کسان لکه چه په فارسی کښې خلق ورځنی په خیال پلو او خیال بافی تعبیر کوی او پښتانه ورته دوریځو اوښان جوړول وائی بی اساسه خیالات لری اودهوا مرغان دپیسی شل خرڅوی مگر پیسی ئی هم هوائی وی چه ځمکی ته یوه هم ته نه ښکته کیږی اوهیڅ لاس ته نه ورځی داراز اشخاص په عملی دنیا کښې هیڅ وجود نلری اوکوم خیال چه دوی ئی لری دعمل ضد اونقیض وی چه هیڅکله نشی عملی کیدلی ، دوی غواړی چه د دنیا په لویولویو بحرونو او اوقیانوسو باندی پلونه اوجسرونه جوړ کړی ، هسکی او اوچتی مانی پری سازی کاندی چه د سپوږمۍ په شپو کښې ددغوبی انتها دریا بونو او دقدرت د مظاهرو تماشا وکړی مگر هیڅکله عملاً اقدام نه کوی چه دغه ننداره دجهاز له امه وکړی اود آرزوتر سره کاندی مونږ باید هیڅکله خپل خیال ضایع نکړو ځکه چه حقیقت هم ور سره ضایع کیږی ، دانفسی قوه چه لوی چښتن په انسان کښې ایښی ده ددی دپاره نه ده چه سړی ئی مهمله پریږدی ، مونږ باید داقوه وروزو اوصحیح کار ترینه واخلو داقوه باید پخپل ځانکښې ویښه اوژوندی کړو ، په صحت اوتقویم کښې ئی کوښښ وکړو ، بی نتیجی ئی هیڅکله پری نږدو اوښه صورت ورکړو ،

تاسی فرض کړی ! چه دری تنه سړی دری باغونه لری اوهر باغ ښې میوې ښه گلان ، ښې منظری لری یوورته ددې دپاره خوشحالیږی چه میوې ئی په ښه قیمت خرڅیږی اوډیری پیسی لاس ته ورځی یعنی یوازی مادی اومحسوس منافع ورځنی اخلی اود خیال له خوا هیڅ برخه نلری .

دوهم سړی برسیره په مادی گټی له خپل باغ ځنی یوبل خوند هم اخلی چه که کله داولس مشران او غټان راځی اودا باغ گوری دی ورته د حشمت او ښې سلیقی خاوند ښکاره کیږی چه د هغوی له دغه راز نظر څخه ده ته یوراز خوشحالی پیدا کیږی چه دا احساس یوډول خیالی حظ بلل کیږی .

دریم سړی دخپل باغ له ښو مناظر واو رازراز گلونو راسا خوند اخلی او د نورو په نظر خپل باغ ته نه گوری ، دی پخپله لکه یوبلبل اوبورا د گلو په ننداره لیوال کیږی اودمحض جمال احساس کوی ، داخیال نسبت ددوهم سړی خیال ته د خپل نوعیت او کیفیت په لحاظ ډیر فرق لری چه سړی یوه ته شرقی اوبل ته غربی خیال ویلی شی مگر هر یودبیل بیل مدنیت سایق او باعث بللی شو لمړی سړی چه بی له محسوس مادی گټی بل شی نه وینی اوپه غیبی حظ پوری زړه نشی تړلی په هغه باندی باید انسانی شعور او خیال

ملامتی بار کړی او باغ ئی هم باید دیوه ځنګله مثال ولری ددوهم سړی باغ هم باید لکه دریم باغ ښایسته او ګلالی نه وی ځکه چه هغه سړی چه دخپل ځان او خپل خیال دخوشحالو دپاره کار کوی باید له هغه چانه چه لکه یو مزدور دنورو دجلب نظر دپاره زیار کاږی ښه کارو کړی او خپل بڼ ښه جوړ کاندی .

دا باید په یقینی ډول و منو چه انسان که چیری یو داسی شکل او صورت پیدا کړی چه بی له مادی او موجودو څیز ونو نورڅه ونه پیژنی یعنی نه ور سره د شهرت خیال وی او نه معنوی افتخاراتو او معنوی جمال ته قایل وی هر ګوره به له هغو مهمو کارونو څخه محروم وی چه لویو خلقو اونو ابغو سرته رسولی دی که چیری د خیال سایق په دنیا کښې نه وی یقین دی چه دنیا به دغه ښایست ونلری .

نه به ښکلی فنون وی ، نه به څوک دننداره او تماشو دپاره څه کار کوی .

همدغه خیال دی چه شعر وادب ته ئی دا ښکلی رنګ او خوندور کیف ور کړیدی چه دډیر و بشری امراضو علاج پری کیږی او انسانی جامعې ته لوی لوی خدمتو نه کوی یعنی همدغه د خیال محصول دی چه دخیال پاللو اوروزلو په اثر کښې عواطف او احساسات تربیه کوی او په ښه لاره کښې ئی صرفوی ، د یوه جزئی مثال په ډول وایم که په یوه ځای سیلاب راشی او دډیرو خلقو کورونه خراب کړی یا کومه زوروره زلزله وشی او ډیر تاوانونه ورسوی که مونږ دا خبر دیوه خبر په صورت واروو یقین دی چه هغو مره تاثیر به و نکړی لکه چه دا خبر یو ادبی او شعری آهنګ پیدا کړی ځکه چه په اول صورت کښې ښائی چه یو ازی خپل سرونه وخوزوو او په خو له د تاثر اظهار وکړو مګر که دا واقعه په یوه ډرامه کښې را وړل شی یا شعر ورځنی جوړ شی او دخیال په زور ئی داسی تصویر کړو چه هغه حال یو مجسم صورت مونده کړی ارومرو به له هغو خلقو سره مرسته او معاونت وکړو او که نور . هیڅ نه وی نو څو او ښکی خو به پری تو ئی کړو ، نو ویلی شو چه خیال دانسان په ژوند کښې ستر اهمیت لری او دخیال په مرسته ډیر ښه ښه کارونه کیږی .

علم چه له عقل او فکر سره نزدی او لنډ ارتباط لری که هغه په انسان کښې یو قوت او استعداد پیدا کوی نو شعر او ادب چه له خیال سره قریب تعلق لری دا قوه او استعداد په کارا چوی او حرکت پکښې پیدا کوی ، نو خیال علاوه پردی چه دعقل او علم یو لوی سایق دی چه باید په زیات اهمیت ورته قایل شو دعلومو او فنونو او مدنیت په پیدا کولو کښې هم ډیر دخل لری او په احساساتو او عواطفو باندی حکمرانی کوی .

همدغه خیال دی چه دانسان په نظر کښې معنوی محسنات او روحی آمال ځلوی یا ئی ددغو خاورو او خسوله ځالی راباسی او په لویه فضا او بله دنیا کښې ئی ګرزوی .

په شپو او ورځو ، په شنه اسمان او په خړه فضا کښې ، دغم او خوشحالی په مختلفو هندارو کښې سړی ته د قدرت تماشه او د جمال ننداره ښئی او لکه یوه ښکلی حوره په هر حال کښې خپل ملګری خوښ او خوشحاله ساتی ، یا لکه یوه معنوی هیولی په هر صورت کښې ځان ښکاره کوی او کله کله لکه یوه شبح مهیبه ښه هم پیدا کړی نو باید چه سړی خپل خیالات هر ګوره ښه کړی او ځانته ښه ملګری پیدا کړی .

بی وزلی پوهان

دښاغلی «نظامی» ترجمه:

ډېر سړی په دې فکر کښې دی، چه بډائی اوفقر د زمانی د تصادفاتو څخه دی، یعنی ددوی په عقیده داټول بډایان اوفقیران دتصادفاتو په اثر بی له کوم استحقاقه بهره مند شوی او یا په پریشانۍ اومسکینۍ اخته شویدی.

ډېرو پوهانو، حکیمانو، فیلسوفانو او معروفو شعراؤ په فقر او مسکینۍ کښې ژوند تیر کړیدی او ځینو د مرګ په وخت کښې کفن هم نه درلود.

په پخوانو مدرسو او د کتابخانو په ګوښو او په محقرو حجرو کښې ډېر پوهان پیدا شوی چه سره دهغه عالی اولوړ مقامه چه په علم او فضل کښې ئی درلودیرته دوچې ډوډۍ او ارزانه خوراکو څخه ئې نورشی نه درلوده. بی دناکارو زړو کالو څخه ئی نورڅه نلرل، خوسره له دې ددوی هغه شوق چه دمطالعی اودرس سره ئې درلودتر آخره پوری و، او ددوی د میل او اشتیاق رونا ځلېدونکې وه.

که دصنائعو تاریخ او د مخترعینو سرګذشت ته یوه کتنه وشی، دهغو اشخاصو په ډله کښې چه مونږ ددوی دافکارواوزیاراستلو په نتیجه کښې بهره مند اومتمتع شوی یواو یا کېږو، داسی خلك موندلای شو چه دخپل عمر په پای کښې سره ددې چه په مصنوعاتو کښې ئې ښه لاس درلود همیشه د تنګدستۍ څخه ډېر په عذاب و، اوخپل ژوندئې ډېر په سختۍ تیر اوه اوهیڅ شی ئې نه درلوده.

دمللو د تاریخ په ادبیاتو کښې ډېر پوه او خوازه ژبی شعراء اوبا فکره متعمق اشخاص پیدا کولای شو چه خپله ډوډی ئی نلرله او د نورو مرستی ته اړو ددوی تر مرګ وروسته هم داسی پوشی نه دی پاته شوی چه ددوی دکوچنیانو د پاره یو څو موده کفایت وکړی؛ ددوی له مرګه څه موده وروسته ددی بېنوایانوقدرخلکو پېژندلی؛ او ددوی آثارئې په ښه نظر کتلی اوتعریفونه ئې کړیدی.

دصنعتګرانو؛ شعراء؛ او مخترعینو په ډله کښې داسی اشخاص هم پیدا کیږی چه ډېربډای اوثروتمند وه او په ډېر ښه شان ئې ژوند کاوه؛ لکه رودکی او عنصری چه په پخوانیو ادباء کښې ستر مقام لری په اروپا کښې هم د دوهمی درجې په لیکوالو اوادباؤ کښې ډېرسړی پیدا کیږی چه دخپلو تالیفونو دخرڅولو په سبب که څه هم ددوی آثارو دادب اوعلم په نړۍ کښې څه زیات قیمت نه درلود ډېری پیسی راغنډی کړیدی مګر ددوی په عصر کښې یا وروسته تر دوی داسی لوړ ادباؤ او عالمان و چه خپل ټول عمرئې په فقراوپریشانۍ پایته رسولی اولکه بې وزلی اشخاص په تورو خاورو کښې خښ شویدی.

دغه ګټه چه نن په دار التجزیو او نورو ځایو کښې دپاستور داکتشافه څخه اخیستل کېږی زرمه برخه ئی هم پخپله ده نه وه اخستی.

په امریکا کښې د اوسپنی د خط یوراز ماشینو نه د (مانت) په نامه شته چه مخترع ئې یوفرانسوی و، دا سړی دخپل عمر په آخر کښې په ډېر ذلت اوخوارۍ ددی نړۍ څخه ولاړ، او دخپل صنعت څخه ئې یوه فایده چه داعتنا وړوی نه ده اخستی.

یوه انګلیس جولا یوټوکر په خپله تنسته کښې او دله چه له تنستی څخه ئی دلرګو اودخپلو پښو په واسطه کار اخیست، یوه ورځ د ده په تنسته کښې نقص پیښ شو مګر جولا په اول وار ملتفت ونشو، وروسته ئې ولېده چه اودلی ټوکرئې د پخوانو ټوکرانو په رنګ نه دی اوددی ټوکر په مخ کښې یوتاوشوی تارلکه دحیشیانو ویښته نښتی و، دی جولا هغه ټوکر دخپلی تنستې څخه وشلاوه اوپه هغه ټوکر ئې خپل لاس وچ کړ، او هغه ټوکر ئې ترنورو عادی ټوکرانو ډېرپوست او ښه وموند، نوئې دخپلی تانستی علت ته توجه وکړه او دخپلی توجه په اثر ئې د اوسپنی یو ماشین دنساجی دپاره جوړ کړ چه نن ورځ دهغه ماشین په شان په لکونو جوړشویدی اوپه زرو کارخانی ورځنی کار اخلی هغه سړی چه لمړنی وار «کائوچوک» دموچنی په پونده کښې استعمال کړه اوپه لکونو لکونو روپې ئې ددی صنعت له لیاری څخه جمع کړی، په دغه حال کښې نور ډېر مخترعین له لوږی اوبې وزلۍ څخه مړه شوی دی.

دخیاطۍ دماشین مخترع دخپل فکر دنتیجی څخه کامیابه نشو لیکن امریکا ئی «الیاس هوی» دهغه مخترع د زیار په اثر ډېری خوږی ثمری واخستلې. «نور په ۷ مخ»

ادبیات

پخوانی ادب:

دمیر منو اشعار

(۱)

زرغونه دملا دین محمد کاکړ لور دقندهار په پنجوائی کښې او سېده ، (۹۰۳ ه) ئې د پښتو بوستان نظم کړ دا حکایت له هغه کتابه دی ، (حبیبی)

او رېدلې مې قصه ده
داختر په ورځ سهار
له حمامه را وتلی ،
ایرې خاوری چاله بامه
مخ او سر ئې سوککړ
بایزید په شکر کښوسو
چه زه وړیم دبل اور
له ایرو به څه بد وړمه
هوپو هانو ځان ایرې کړ
څوك چه ځان ته گوری تل
لویی تل په گفتار نده
تواضع به دی سر لوړ کا

چه له شاتو هم خوږه ده
بایزید چه ور ویدار
په کوڅه کی تېرېدلی ،
را چپه کړ لې نا پامه
په ایرو په خاورو خړ
د خپل مخ په پاکېدو سو
چه په اور کی سم نسکور
یا به لږ شکوه کومه
له لوینی ئې ځان پرې کړ
خدای ته نسی کړای کتل
لو خبره په کار نده
تکبر به دی تل ځوړ کا

❀ ❀ ❀

(۲)

مرحومه رابعه دقندهار له شاعرو میرمنو څخه ده ، چه د بابر پاچا په عصر یعنی تر (۹۱۰ ه) وروسته ژوندی وه ، دشعر دیوان ئې درلود ، د ارباعی ددې ده

رباعی

آدم ئې مځکی وته راستون کا
دوزخ ئې روغ کا پر مخ دمځکی

په اور دغم ئې سوی لړمون کا
نوم ئې دهغه ، دلته بیلتون کا

(پټه خزانه)

«پاته د ٦ مخ»

دټایپ ماشین لمړی واریوه مهندس په فرانسه کښې جوړ کړ وروسته بیا امریکا ئیا نو د هغه نو اقص تکمیل کړه او ډېری استفا دې ئی ځنې وکړی .
له دی کبله نونا چاره یو چه داومنو ، بلکه یقین ولرو چه ددانش اولیاقت اوبډا ئی اوثروت په منځ کښې څه ملازمه نشته اونور عوامل دی چه ځینو اشخا صوته عزت ورکوی اودمال خاوندان ئی گرزوی ، او ځینې دفقر اوپریشانی په ناړولړی .

شه نوم

ته چه هسی کاروبار ددی د نیا کړې
چېری نه چه هېر له زړه نه خپل اشنا کړې

هغه رزق چه مقدر دی زیات به نشی
که په کور کښې زرغون بوټی د کیمیا کړې

را شه راشه نیکنامی په د نیا پیره
نشته سود تر دا په پورته که سودا کړې

نیکنامی که په دولت حاصله نکړی
دا رنګ فکر دی صواب نه دی خطا کړې

دا مال نه دی چه دې پاته شی په کور کښې
هغه مال دی چه توښه ئی د عقبا کړې

په دنیا کښی به دی پاته نیکنامی شی
خوار غریب به هم مشغوله په دعا کړې

سرخروئی د دواړو کونو دی رب در کا
په احسان چه غمجن زړونه تسلا کړې

که هر څو تاته محتاج زه پیر محمد یم
ښائی تاته چه می غوږ په د اوینا کړې

(پیر محمد کاکړ)

(کړی)

چه په ګرم نګاه هسک دواړه چشمان کړې
پخپل بزم کښې کباب به ټول مستان کړې

د صحرا په لور شمال ته زلفی نیسه
چه سبزه مې د مزار ګل وریحان کړې

د بهار په تماشا دی څه موقوف و
چه دی بلې سری لنبې په ارغوان کړې

دواړه زلفې دی په اور د رخسار سیخ شوی
اوس به صید د خسته زړونو پرې بریان کړې

عیادت ته ئی شیدا راغی له لرې
که ښکاره ورته د ستر ګو بیماران کړې

(کاظم خان شیدا)

نیسم

چه د خیال په لاسو تن د دلبر نیسم
د هلک په دود په لاس کښې قمر نیسم

تورې زلفی سپین رخسار ور څخه غواړم
ځکه خدای ته لاس په شام و سحر نیسم

چه د پله خاورې ئی باد را باندې راوړی
هغه خاوری به په مښک و عنبر نیسم

وا یم اوس به له همز ولو سره راشی
په هر ځای ورته دلو بوګد ر نیسم

که یو ګوټ شراب د خپلی جوټی را کړی
هر یو څاڅکی ئی په جام د کوثر نیسم

که د خلاص نکړم دلی له شور و شره
علیخان به دی لمن په محشر نیسم

ولګاوه

یار می په خاطر د جفا اور ولګاوه
ما چه مړ کا وه هجران پری نورو لګاوه

هیڅ قابو می نه وه په اختیار هجر د یار ته
او ر ئی د هجران په مایه زورو لګاوه

مائی لا له دره سوال جواب موندلی نه و
زر بیا سپی رقیب راپسی شورو لګاوه

خوږ زړه می یار ښه کړ په تر خوتندو خبر و
دائی پری د ما لګی تود ټکور و لګاوه

باغ زما د ګلو زاغ لوټی زه ورته ګورم
خدای مې په ژوندونی میراث خور ولګاوه

یو وصل د یار که مې مونده په زر سفره
اور به می هزار ځله په کور ولګاوه

(علیخان خټک)

غزل

خو چه بیاموندستا په مینه کښې ادراک ما — هغه دم ور کړ دسراو دمال واک ما
که هزار ځله راته شم ستا په عشق کښې — دی ورک کړی په یاری کښې دغه باک ما
مخ ښکاره کړه پکښې زرد اشنا خیاله — آئینه غوندی کړ زړه له غیره پاک ما
بی له غمه ستا د مینی په سودا کښې — له بل چا سره ونکړ اشتراک ما
چه لنبی دیار دمینی راچار پېر شوی — پکښې وسه درست صورت لکه خاشاک ما
چه حیوان لری لبان خونخواری سترگی — دهغو په لاس کښې ولید مرگ وژواک ما
ناخلی لاس زماله قتله دیار سترگی — که خپل ځان کړ په زاری ور ته هلاک ما

بی محبنو نه می په مینه کښې ونه لید
دنعیم په دود په یار پسی غمناک ما

❀ ❀ ❀

یار زما په ژړا باندی ملول نشو — که مې سر ور ته پیشکش کړ قبول نشو
زه هاله منم حاکم د یار د حسن — که د خط په رقم باندې معزول نشو
ته ئی گوره که زاهد په خانقاه کښې — د غمزو په تورو باندې مقتول نشو
د یوو د د، دی په معنی کښې سړی نه دی — چه خبر د یار د عشق په حلول نشو

وبه نه رسی نعیم و حقیقت ته
که ور پوری ستا دمینی مدلول نشو

(میا نعیم متی زی)

بویه

په حالت د عاشقانو نظر بویه — په زیارت د شهیدانو گذر بویه
بې مرشده څوک خبر دمرید اخلی — غوڅ په غم د فرزندانو پدر بویه
بی ریباره رسیده و یار ته گران دی — په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه
بې هنره چا دولت موندلی نه دی — په خدمت د صاحبانو هنر بویه
ستاله سترگو مې هر گور ملاحظه شی — له دی هسی سیاه دلانو حذر بویه
ښه چه سترگی خدای ملالی کړې دترکو — لږ په زړه د ظالمانو اثر بویه
ستا په داغ به هر یو زړه مشرف نه شی — دغه تاج د بزرگانو په سر بویه

چه خبر د «رحمان» نه اخلی یار بدکا
با د شاهان له گدایانو خبر بویه

(رحمان بابا)

د رحمان با با د بد لی تخمیس

ښاغلی محمد حسین خان « طالب » له هرا ته

نه ملا یم نه میر زا یم نه مد یر یم نه رئیس یم نه معین یم نه وزیر یم
په خلوت کښې دعشق هسې گوښه گیر یم که مې څوك په فقیری شمېری فقیر یم
که مې څوك په امیری شمېری امیر یم

دیتې د سرې لمبې نه څه پر وا ده ؟ زه عاشق یم دعشق در د ماته د وا ده
لکه گل په پریشانی کښې مې خندا ده لکه شمع په خند ا کښې مې ژړا ده
له عالمه په پټ پنهان دځان په ویریم

چه لمبې ئې پو رته کېږ ی له و زر و په بل او ر د ی څه حا جت د سمند رو؟
زه خونه غواړم ژ وند ون د بې هنرو صد قې لر ه ئې غـوا ړم د د لبر و
هسې نه چه په د نیا پسی ز هیر یم

که نظر کړې کا ئنات او دې د نیاته سلسله د تـعـا و ن د ر ښئی تـا ته
تعا ون دا د ی چه و گو ره و ما ته هم پند اخلم هم پند وایم و هر چا ته
زه د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم

عاشقانو ته خپل عشق پیر کا مل دی چه عشق نه وی په تش علم څه حاصل دی؟
تاثیر نلر ی تسبیح که زړه غافل د ی د خر قی خدمت هر گو ره ډېر مشکل دی
که نی زه و دغه کارو ته په ځیریم

د انسان ز ړه آ ئینه عشق ئې صیقل دی « ښه عمل د لا ری مل » ضر ب ا لمثل دی
عشق مې خوی عشق می مسلک عشق می عمل دی په هجر ان کښې خیال دیار را سره مل دی
په زندان کښې دیوسف سره اسیریم

مجنون غور ځوی که ځان دعشق وا ورته نه گو ر ی د عـا قلا نـو و پیغـو ر ته
چه نظر کړم د جها ن وشر و شور ته نشته بله آ ز ا د ی تر دغه پو ر ته
چه بند ی د یار د زلفو په زنځیریم

و « طالب » ته ا د یان ځکه حیران دی چه په شعر کښې ملا یان ئې طالبا ن دی
عا شقان په خا کساری کښې پاد شهان دی خو شحا لان او د و لنان می غلا مان دی
زه « رحمان » په پښتو ژبه عالمگیریم

هوښیار او بډای

گل ناچا «الفت»

او ریدلی مې قصه له راویانو
چېرته لری کوم وطن کښې یو مالدارو
هوښیاری پوهه خدای هیڅ نه وه ورکړی
یوه ورځ ئې پخپل اوښ له کومی خوا
یوه سړی ورسره مل شو د یونان
ورته وی ویل دا هومره د روندوری
راته ووایه چه څومره دی دابار ؟
سړی ووی له پنځو سو منو تېر دی
مگر څه وکړم چه نه وه چاره بله
یوانډی ډك شوتر خولی د سودپه جوار و
دی دپاره چه انډول شی برابر
حکیم ووی بار او پیټی د نادان
خاوری مه وړه خو شې مه در نوه بارخپل
چه سړی د غی وینا ته لږ څه ځیر شه
خپل ملگری ته ئې ووې ای لقمانه !

ته چه د ومره ډېر ښاغلی او هوښیارئی
سره او سپین څومره لرې او ځمکه څومره
حکیم ووې هیڅ شی نلرم فقیر یم
مال می څه کړې مشوره می کړه قبوله
سړی وویل ستا نه منم خبره
څوك چه مال او دولت نلری هرگوره

که می سراسر فایده ستا مشوره وی
ناپوهی د بډایانو یو په سله
د هوښیار او د نیادار قصه شوه خلاصه
پروا نشته که قصه رانه دعا شوه

خدای دی نه کاهیڅ وخت پوهه دومره خواره
له دی ملك او دی وطنه دی وی اری
ړوند د شی هسی بډای او معتبر
دا هوا د دې خدای ساتی له داسی حاله

که ئی اوری ای د عقل خاوندانو
شوم بخیل او ډېر بی عقله د نیادارو
انسانی برخه ئی ډېره وه نیمگړې
څه غله راوړله کورته د ربا
چه حکیم و د خپل عصر او زمان
په اوښ باندی دی لوی ظلم او تېری
دا بار کړی دی غنم دی او که جوار ؟
داوری خو په رښتیا چه په اوښ ډېر دی
ضرورت اوښ ته دارنگه پېښوله
له ناکامه می بل ډك کړ لوله خاورو
اوښ ته جوړ شود روندوری لکه یوغر
یو په دوه وی په رښتیا پدی جهان
واچوه دواړو انډیو کښې دی جوار خپل
ډېر خوشحاله د حکیم په ښه تدبیر شه
په تدبیر او عقل زیات له ټول جهانه

راته ووایه چه څومره د نیادارئی
چه خدای تا لره در کړی عقل هومره
خو خاوند د عقل و فکر او تدبیر یم
نه سره سپین لرم نه ځمکه یوه پوله
گڼم خپله ناپوهی له تانه غوره
د هغو مخو نه هېڅکله مه گوره

دا فایدی دی شا مدام تاسی کره وی
ده بهتره ستا له عقل بیحاصله
اوس د خدای دربار ته جگ کړی دواړه لاسه
ځکه ما ته اوس پیدا دا تمنا شوه

چه ناپوه بډای کښېنږ دی ورته غاړه
دغه هسی بی قدری دارنگ خبری
چه به گوری فضیلت په سپك نظر
چه بل شی به لیدی نشی بې له ماله

مال دولت د بډایانو دی مدام وی
خودعلم لوړ بیرغ ته دی سلام وی

له ځانه شکوه

ښاغلی عبدالرؤف خان «مخلص»

که قلم کمه را پورته — واړه درد مې راشی سرته
زړه می شی راته په قهر — وای څه ولیکه ټبرته
گوندی، ستا په خوله اصلاح شی — مخ کښې لوری د هنرته
نوزه هم ځان آراسته کړم — پر کاغذ څه نوشته کړم

❀ ❀ ❀

زړه می سوځی لویه خدایه — چه ونو روته کاته کړم
زه ټنبل پروت همیشه یم — داله ځانه سره څه کړم
ایله دو مسلك مې خوښ دی — هسی نه چه علم زده کړم
پر دې ویښه دنیا ښورم — مگر هیڅ نه ورته گورم

❀ ❀ ❀

جهالت رتبه مې خوښه — نه چه لوړ دې په کمال شم
تل دی نو روته احتیاج یم — نه چه چا سره دی سیال شم
دغه خیال را سره نشته — چه یوه ورځ به پایمال شم
اوس په علم دنیا درومی — په هوا خپل مقصد مومی

❀ ❀ ❀

نن وام خیر دی سبا به — شم راپورته ستا ولاړ شی
په دغه خیال کښې کلونه — پر ما تیر کار می ویجاړ شی
ودې خپل حال ته چه گورم — له غمو می زړه لتاړ شی
نو می تل دغه ارمان دی — چه په څه وخت می دوران دی

❀ ❀ ❀

«مخلص» نه یم در واغجن یم — چه وطن نه لوړومه
یاد دې وطن کو دی تش — په طلا نه جنگومه
یا چه دا مېنه لوړیږی — زه به سر نه ورکومه
نو ئې څه کوم دا سر خپل — چې جار نکړم تر ټبر خپل

(طلوع افغان)

غزل

ښاغلی محمدارسلان «سلیمی»

دنا پوهو چه څوك سوال د رهبری کا — نور څه نکړی خپله هڅه د کوهی گا
د نا اهلو نه چه کار د اهلو غواړی — د ټنگر نه به آرزو د زرگری کا
لاس دلاسو کار کوی سترگې د سترگو — هسې نه چه لاس لیده سترگې خواری کا
په چمن کښې هر راز بوټی زر غونیږی — خو بلبل بو یه چه بی گل او اغزی کا
بوراخپل ځان اغزو باندی کړی ژوبل — په نا حقه بیا پلمه د گل یاری کا
سړ یتوب نه په جامو نه په بنگلو دی — ورېښمینی جامې په تن کله چوړی کا
غو لېدل تش په خبر وا حمقی ده — نا اهلان تل په وینا هما گیری کا

الفونس کار

دگلوسره

(۷)

« شوکېدلی گل »

ما د سهار په و ښکو خپلی سترگی لندې کړې او لمړی ځل مې د لمړی ور انگو ته خپلی سترگی وغړولې .

سهار وختی زما په خوا کښې یوه پېغله تېر یدله اوهرکله چه هغی زما ښائست ولید ، نوهغه زما د جمال ننداری ته ودرېدله ، اوماته ئې په ژوراودمینې په نظر وکتل ، زه ورته مسك شوم .

د غی پېغلی خپل ښکلی پوست لاس زما خواته را اوږد کړ ، زه د ویری ورېږ دیدم ، لیکن ددې پوست او ښکلی لاس چه زما په وجود ولگېد نوزه له ډېره خونده بې هوښه شوم ، لیکن په دې بی خودی کښې می یو ډېر داسی سخت درد محسوس کړ چه دنیا را باندی تیاره شوه اوله ډېره درده می سرد هغه گل بوټی په ښاخ ولگېد چه زه ئې ورڅخه شوکولیء وم .

❀ ❀ ❀

ای مستې پېغلی ! تا ولی زما د سر تاج او ټوپل و شوکاوه او زما په گو گل دی اوربل کړ ؟ او تاولی زما څانگه اومټ غوڅ کړ اوزه دی مړ ژواندی کړم .

اې مستی ! باید تاز ما سرته خپله سپینه پسته لېچه دبالښت په څېر ایښوولې وای ، چه ما ور باندی سرایښولی اوپه خوازه خوب بیده شوې وای .

اوس زما د پرهر څخه وینی څاڅی ؛ او دمرگ برومی پانی مړاوی او زېړې کړی ؛ دازه له ډېره غمه اودرده بې هوښه شوم ؛ اوکه باد اودسهار وږمه زما ننداري ته ودرېدله ؟ اودازما غوږونه کانه شول اوکه مرغانو زما دغم له کبله خپل چغا ربس کړ ؟

اې زما گرانو ملگرو ! دلمر رڼا اوپلوشې څه شوې ؟

آیا دازه ئې نه وینم . اوکه دنړۍ په مخ باندی درڼا لښکرو ماتې وکړه اوپه فضا کښې دتیارې لښکری خپرې شوې ؟

❀ ❀ ❀

شپی لا په نړۍ خپل تور څانگو نه ندی خپاره کړی ؛ مگر زما په سترگو دمرگ توری بسیئی منگولی ایښی دی نه به بیا زما سترگی داسمان په شنه گنبذه کښې ځلاند ستوری ووینی ؛ اونه به زما تنکی پانی دسهار وږمی ښکل کړی .

زما تنکی پانی به ژر مړاوی اوپه ځمکه خپرې شی اوساه به می ژرد خاورو اواوبودقید څخه آزاده شی اوپورته به ولاړه شی .

اې مستی پېغلی ! زما داښه صورت به تل ستا په خیال کښې مجسم وی اوستا ضمیر به تاتل په دې خپله بې رحمی ملا متوی ، مگر ته به تل په دې خپله بې رحمی خپگان اوافسوس نه کوې .

❀ ❀ ❀

خدای دی ستا داظلم اوگناه عفوه کړی ؛ اوتادی خدای دظالمانو له منگولو وساتی ؛ اوتا ته دی پاك خدای دشوکېدلی گل غم اودرد نه ښئی !

ای مستی پېغلی دشوکېدلی گل په شان غمجنه مشې !!!

(دښاغلی سیفی ترجمه)

د «شیلي» اثر .

شپې ته

دښاغلي «روښان» ترجمه

اې دشپې اروا! په بېړه سره دلمر ختیز څخه را ووزه اودلمر لوېدیز موج دپاسه تیره شه ، او هغه ځای ته چه واړه، او ږده اویوازی روځ ده ، ځان ور سوه . ته هغه دخو ښۍ اودبېری خوبونه یو دبله سره اویی چه تا بیر و و نکې کو ی یا پر مو نږ گرانو ی .

ستاا لو تنه دی په بېړه وی .

خپله صورت په یوه هسی خړه کوڅۍ کښې چه په ستورو سنباله شوی وی ،وپېچه !

په خپلو ویښتا نو سره د روځې سترگی ړنډی کړه مچوه ئې تر څو چه زړه ئې تنگ شی ، بیانو پرښار سیند، اومځکی وگرزه اوپه خپلی امساسره چه دجادو اغیزه لری، هرشی ښکل کړه .

اې شپی راشه، چه دڅومدې راهیسی تاپسی گرزم!

کله چه ویښ شوم او دشنه سها ر ر نا می ولېده ستادپاره می سوړ اوسیلی و کیښ، کله چه رڼا خپره شوه اوپر خی وچی اوور کی شوی، او غرمه په دروند والی پر گلا نو اوونو پر یو ته، اوستړې ستومانه روځ په داسی حا ل کښې چه د یو ی ر ټلی مېلمنی په شا نی نری ست ته ولاړه وه، دخپلی هوسایۍ خوا ته ئې مخ واړاوه ستادپاره می سوړا سوېلی و کیښ .

ستاور ور مر گی راغی اوږغ ئې کړه :

« ما غوا ړې ؟ »

ستا اوپر تا گران ماشوم،خوب، هغه دخیر نوستر گو خاوند ، دڅاښت دشاتو د مچ په شانی راته وبښید :

« تا ته نژدې خپله ځاله جوړه کړم ؟ ماغواړې ؟ »

اوماځواب ور کی، : « نه ، تانه غواړم ! »

کله چه ته ومرې ،مر گی په بېړه اوپه ډیره بېړه راځی.

کله چه ته وتښتې، خوب ځان رسوی؛منگر زه دهیڅ یوه څخه ، دځان خواته ، دراتگ هیله نه لرم یوازی له تائې لرم . اې گرانی شپې ! نوته هم خپله نژ دې راتلو نکی الو تنه تیزه کړه ژراو په تلیو ار ځان را ورسوه !

سپوږمۍ ته

نه چه دهسک دختو توان نه لرې .
دننداري خیال دجهان نه لرې ؟

یا یې په ستورو کښې بې مله پردی
یادلیدو وړیکښې نه وینې شی ؟

« بی. بی . شیلی »



د پوهنې وزارت د واورې منظره

د پوهنې وزارت شاته د (بوستان سرای) د واورې منظره

شعری سرقی

(۲)

ښاغلی صدیق الله «رښتین»

۳- دظاهری سرقی دریم قسم دادی چه معنی ټوله واخلی او دنورو نووالفاظو په لباس کښې ئی راوړی دی ته عرب المام او سلخ وایی دا قسم هم ددوهم قسم سرقې پشان دی یعنی که دوهم بیت بلیغ ونوښه او بهتره ده او که دواړه په رتبه کښې برابر وونو دومره بدی نه لری مگر ترجیح اول لره ده او که اول بیت ښه اودوهم ټیټ او لاندې وبده او مذمومه بلل کیږی. مثالونه ئی لاندی وگوری:

الف: هغه چه دوهم بیت له اول نه بلیغ او ښه وی لکه ددولت دا بیت:

زه اول هم دیوانه وم دیوانه یم لا تر اوسه
له دلداره همخانه وم همخانه یم لا تر اوسه

چه خوشحال ددوهمی مصرعی معنی په بل قالب کښې داسی اچولې ده:

جدائی نشته وصال دی، ځنی لیری و هم خیال دی
له هغه چه همخانه وم همخانه یم لا تر اوسه

واضحه ده چه په دوهم بیت کښې د معنی ارتباط او قوت زیات دی، ولی دولت ددلدار همخانه توب په لیونتوب بنا کوی حال دادی چه دا په ظاهر کښې سره هیڅ ارتباط نه لری نو دهغه بیان محض یو اظهار دی او دخوشحال اظهار داسی یو تاکیدی صورت لری چه قبول ئې زړه ته نزدی دی- ددې تمهید نه وروستو (چه جدائی نشته وصال دی او وهم او خیال ځنی لیری دی د دلدار همخانه توب یو محقق شی ثابتیږی) یاد دولت دا بل بیت:

زه هلک هم افسانه وم له عالمه بیگانه وم
تر خلو پښتو کالو تیر شوم بیگانه یم لا تر اوسه

چه خوشحال داسی ویلی دی:

چه ئې ځان سره اشنا کړم له هر چائی شاپشاه کړم
له عالمه بیگانه وم بیگانه یم لا تر اوسه

دوهم بیت ډېر متین او پوخ دی ولی چه دلته د عالم بیگانه توب په اشنا توب بنا دی، او هلته هسی تشه بی دلیله دعوی ده او اول بیت زیات طفلانه معلومیږی ځکه چه په هلکتوب کښې افسانه توب صرف یو لفظی ښایست دی او بس.

ب: هغه چه دواړه مساوی وی لکه دعبدالقادر دا بیت:

سرې سری اوښی دې په مخ عبدالقادره
و خپل یار ته د یاقوتو مهمانی ده

چه حمید داسی ادا کړی دی:

په لمنو در گوهر داوښو بویه
تیاری د یار د خیال د مهمانی

دواړه (۱) بیته یوشان او مساوی معلومیږی، ښه تخیل ، ښه ادا او خوږوالی په دواړو کښې پروت دی په اول کښې د سرو او ښو او یاقوتو تشبیه بلیغه ده او په دوهم کښې دیار د خیال د مهمانۍ د پاره په لمنو د اوښکو گوهر تیارول یو ښه شعر ی او بدیعی کیف او لطیف تخیل دی .

بل مثال یونس وایی:

خلقی به ئې د گلو نو نند ارې کا
لور په لور به ښه گلزار وی مونږ به نه یو

پیر محمد وائي:

زلمی جونه به سیلونه د صحرا کا
غر او دښت به لاله زار وی مونږ به نه یو

مطلب او معنی یوه ده خو په جلا الفاظو کښې بیان شوی ده ، دواړه بیته په رتبه کښې مساوی گڼل کیږی که څه هم په اول کښې څه اختصار شته مگر د زلمی او د جونې کلمې بیا یو بل حسن او خوږ والی لری نو په دې لحاظ دواړه برابر او یوشان ښکاری.

ج: هغه چه دوهم له اول نه کښته اولاندې وی - لکه دا :

چه حمید غوندې بلبل ئې سر په گور کړ
هغه ورځ به د بگرام په گلو هی وی

مرزا حنان وائي:

پژمرده به تول گلان د قند هار وی
چه په مرگ ولاړې حنان رنگه بلبله

اول بیت ښه او بلیغ دی ولی کومه معنی چه دوهم بیت افاده کوی، هغه په اول بیت کښې سره له اختصاره او ښې ادا موجوده ده بل دا چه په اول بیت کښې دا (چه سر په گور کول، یا د بگرام په گلو به هی وی) کنایی اداده او په دوهم بیت کښې دا (چه تول گلان به پژمرده وی یا دا چه پر مرگ ولاړې) تصریح ده او کنایی له تصریح څخه بلیغ یوشی دی .

بل مثال: مرزا وایی :

محبت ئې په مثال زنبور خانه شوه
چه خوازه ئې پر یکوم په ځان لشه وړم

پیر محمد وایی :

هیڅ نصیب می شهد نشو د سر وشو نډو
له مچیو ئې د خط په ځان لاشه وړم

اول بیت په رتبه کښې زیات ښکاری ځکه چه هلته ټول تلازمات تر آخره پوری موجود دی ، محبت د مچیو کوردی نو څنگه چه د گبین د پریکولو په وخت کښې سړی لشې زغملو ته مجبور یږی د غسی د محبت د خوږ و په خوړ ولو کښې هم زحمت گالل کیږی او په دوهم بیت کښې د پریکولو مفهوم پاته دی بل د خط او د مچیو تشبیه هم کوم بلیغ او ادبي شی نه معلومیږی.

دا وو د ظاهرې سرقی اقسام .

غیر ظاهره سرقه :

دا قسم سرقه هم څو ډولونه لری چه دا دی وروسته بیانیږی:

الف : اول قسم غیر ظاهره اخستنه داده چه د دواړو بیتونو یعنی د اول بیت او دوهم بیت معنی گانی سره متشابه وی یعنی دواړه شعر ونه په معنی کښې تشابه ولری .

لکه د خوشحال دا بیت :

ولی را ته وایی چه په ښکلو نظر مکړه
سترگی چه پیدا دی خو دیدار لره کنه

چه پیر محمد داسی ویلی دی:

ولی و مشتاق ته یار له مخه نقاب نیسی
رب چه نعمت ورکړ خو اظهار لره کنه

د دی دواړو بیتونو په معنی کښې تشابه موجوده ده ولی چه مطلب او مدعا په دواړو صورتونو کښې دیار د مخ لیدل دی خو دلیلونه ئې جلا دی. په اول بیت کښې دا دلیل دی چه سترگی لیدوله پیدا دی نو د ښکلو له نظره ئې څوک ولی منعه کوی پریږده چه ورته گوری. د دوهم بیت دلیل دا دی چه نعمت خدای اظهار له پیدا کړی دی نو یار مخ ته نقاب ولی نیسی پریږده چه مشتاق ئې دیدن کوی او ورته گوری .

ب- دوهم قسم غیر ظاهره اخستنه داده چه د دوهم شعر معنی له اول نه زیاته عامه او شامله وی لکه د معز الله دا بیت:

روایت زما د قتل تا راوړی دی پوهیږم
چه دی خط په رخسارو کښې د دی خط دی مضمون هسی

(۱) دا بیتونه په تېره گڼه کښې د دوهم قسم سرقې په مثال کښې راوړل شوی دی ، مگر د دریم قسم سره زیات تناسب لری نو ځکه مو دلته بیا ذکر کړل، ښاغلی لوستونکې دی ئې هلته زیاتی وگڼی او په نورو مثالو دې اکتفا وکړی.

چه عبدالغفور داسی ویلی دی:

په صفحه دښکلی مخ لی خط دوینو دا تقریر کا

چه شاه قتل دعالم کاددی خط دی مضمون هسی

په دواړو بیتو نو کښې مطلب د قتل روایت دی

یعنی دخط مضمون اوروایت دادی چه شاه قتل کوی خو

په دوهم بیت کښې شمول اوعاموا لی زیات دی ولی

چه دلته دعالم قتل مراد دی اوهلته یوالحی دعاشق قتل.

ج: دریم قسم غیر ظاهره اخستنه داده: چه ددوهم

شعر معنی داول شعر په ضد وی لکه د حمید دابیت:

لکه سر دیسه په اور غاښونه سپین کا

هسی ما له نن له غمه خندا ر ا غله

چه علیخا ن داسی وایی:

لکه و ځاخی شونتی د اور له تا وه

هسی ماله نن له غمه ژړا ر ا غله

په اول بیت کښې وائی چه ماله له غمه خندا راغله

اود دوهم بیت مطلب دا دی چه ماله له غمه ژړا راغله

اودا معنی ښکاره د اولی معنی پر ضد ده.

د: خلورم قسم داده چه معنی له یوه محل نه بل محل ته

نقل کړی شی یعنی په اول شعر کښې یوه معنی

په یوه ځای پوری تعلق لری اوپه بل شعر کښې هغه

معنی په بل ځای پوری تعلق ونیسی لکه دعلیخان دابیت:

دامی لاس را کیښ صنم د سرد پاسه

که و مخکی ته را کوز شه نمر د پاسه

چه خانگل خلیل داسی ویلی دی:

د احسینه پری مسته په خوا را غله

که و مخکی ته سپو زمی د سما را غله

د دواړو شعرو نومعنی یوه ده چه د صنم تشبیه

او لحمکی ته را کوزېدل دی. خودعلیخان په بیت کښې ئې

په نمر پوری اودخانگل په بیت کښې ئې په سپوږ می

پوری تعلق نیولی دی او د واړه بیل بیل محلونه دی.

بل مثال علیخان وائی:

صاف نازك دی لکه سترگه حیرانیږم

چه په دو د د آه می ولی نه نر میږی

شمس الدین وائی:

د غنچی په دو د نازك دی حیرا نیږم

په نسیم د آه می و لی نه نر میږی

معنی له یوه محل نه بل ته نقل شو ي د ه یعنی د

نازکوالی تشبیه له سترگی څخه غنچی ته او د نرمید لو

معنی د آ ه له دود څخه آه نسیم ته نقل مو ندلی دی.

ه: پنځم قسم داده چه داول شعر نه څه معنی

واخلی او په څه چه د کلام حسن را لحی هغه پری زیات

کړی: لکه دمطیع الله دا بیت:

مو نسږه طو طیا ن یو وحدت راغلی

نا سوت با ز ا ر کښې گر لحو ښا غلی

اود خوشحال دا بیت:

مونږ ه طو طیان یو په بن ر اغلی

گلو نه گو ر و ښکلی ښا غلی

دا و ل بیت څه معنی یعنی د طو طیا نو ر ا تلل

په دوهم بیت کښې شته، خود دوهم بیت حسن او تناسب

زیات دی، لحکه چه دطوطی، بن او گل په منځ

کښې پوره تلازم موجوددی اودطوطی ا و بازار په

منځ کښې هغو مره نشته.

حکم: د غیر ظا هری سرقی دا ټول ا قسام

د بلیغانو په نزد مقبول اوغوره دی، بلکه د سرقی

اطلاق هم ورباندې روانه دی لحکه چه په دی ټولو کښې

یو قسم تصرف شوی دی دتلخیص خاوند وا یی چه

داانواع ټول مقبول دی، اوبعضی خو ښه تصرف گڼلی

شی، چه یوه نوې ادا، یایو نوی شی یکښې وی.

په هره پیروی کښې چه خفاپیره وی، په داسی صورت

چه د دو هم بیت اخستل له اول څخه نه معلو مېږ ی

نوهغه غوره اوبهتره گڼل کیږی.

یا د ښت: داخبره هم ضرور پیژندل پکار دی

چه په دې ټو لو ذ کرشو وقسمو نوهله دسرقی یانور

حکمونه کولی شی چه ددوهم شعر اخستنه له اول څخه

معلومه وی. یعنی دا ثابته وی چه دوهم له اول څخه

اخستل شوی دی لحکه کیدی شی چه داشعارو یووالی

اونزدیوالی په توارد بنا و ی. دامثالونه چه مونږ

بیان کړل هم ممکنه ده چه دتوارد اوبرابری له څه وی

په یوه معنی کښې دخیالاتو توارد یومسلم شی دی نو

لحکه توارد ته غلا اوسر قه نشی و یلی؛ په عر بی

اوفارسی کښې دشعری سرقودحدودو پیژند نه په دې

دول وه چه بیان شوه اودا تر ډېره حده په پښتو کښې هم تطبیق شول خو سره ددې نور فکر او غورهم شاید وغواړی - په دې باب کښې دا یو خوتکی زیاتوو: شعر یو ذوقی شی دی ، لدی کبله شعری غلاګانی هم کوم یوزبردست جامع اومحتوی حدود نه اري نوځکه د سرقی د حکم او پیژندلو د پاره له ذوق نه هم کار اخستل پکار دی ، که چیری دوه شعره یوه منصف او صحیح ذوق ته وړاندې شی هغه یکښې ضرور داخستنی اوسرقی عیب پیدا کولی شی . وجدان هم په دی فیصله کښې پوره برخه اری ، نوځکه پکار دی چه له دغو ذکر شوو اصولو سره ذوق اووجدان هم ملګري شی اود شعر کوته او کره پری معلوم کړی شی په دی ځای کښې د یوه صالح ذوق خبره اوفیصله ډېره معتبره ده .

دسرقو دبحث په آخر کښې دتضمین ، اقتباس تلمیح ،عقداوحل بحثونه هم شته ، نوځکه دد غو څه ذکرهم دلته کول غواړو :

تضمین: دی ته وائي چه دیوه شعر په ضمن کښې دبل چادشعر څه برخه واخستلی شی، که یو بیت وی او که دیو بیت نه زیات وی، که مصرع وی اوکه د مصرع نه کم وي داټول تضمین بلل کیږی خو به دی شرط چه یا دهغه نوم واخلی اویائي نامه ته اشاره او تنبیه وکړی او که چیری دغه بیت په ادبیانو کښې مشهور وی نو بیا نامه او تنبیه ته ضرورت نشته. تضمین او سرقه په هم دی شرط سره بیلیږی دواضح تضمین مثال دغلام محمد دا بیتونه دی چه درحمان بابا شعری تضمین کړی دی ، اودهغه نوم ئی اخستی دی .

ښه ویلی په دی باب عبدالرحمن دی

بلاور که دهغوچه هو ښیاران دی

چه عادت له سړی نه لحی لحی علت

خدای دی نه کاخوك په بده چار عادت

دیوه مشهور شعر د تضمین مثال لکه چه په دی بیت کښې :

زه اول هم دیوانه وم دیوانه یم لا تر اوسه

له هر څه نه بیګانه وم بیګانه یم لا تر اوسه

ددولت دمشهور شعر یو بیت تضمین شوی دی :

بل مثال: مطیع الله په دی لاندی بیت کښې درحمان بابا دمشهور شعر یو مصرع تضمین کړی ده :

دمکی په طواف خر نه حاجی کیږی

دا وینا داو لیا ده سو دا نه ده

درحمان بیت دا دی ،

دمکی په بزرګی کښې هیڅ شك نشته

ولی خر به حاجی نشی په طواف

ښه تضمین دادې چه په اصل باندی یوه نکته هم زیاته کړی چه په اصل کښې نه وی په تضمین کښې لږ ډېر تغیر هم څه پروا نه کوی لکه غلام محمد چه ددوهم بیت په اوله مصرع کښې څه تغیر کړی دی عرب دیوه بیت یا یوه بیت څخه زیات تضمین ته استعانه . اودمصرع او مصرع څخه کم تضمین ته «ایداع» وایی .

تلمیح: دی ته وایی چه به کلام کښې یوی قصی یا یو شعر یا یو متل ته اشاره وکړی شی او ذکر نشی لکه دعلیخان دا بیت :

قلندر سوات ته شړی له ارته هنده

خومره ډېر شوی دمیرادحسن نازه

دمیرا اود قلندر قصی ته اشاره ده . یاد حنان دا شعر :

دحنان سینه نو خطو تور ښکاره کړه

که سینه وه د حمید دکان دمشکو

چه د حمید دی شعر ته تلمیح ده :

داشرف دعاشقی نه دی نور څه دی

چه سینه شوه د حمید دکان دمشکو

اقتباس: عرب اقتباس دی ته وائی چه دیو کلام په ضمن کښې دقرآن اوحدیث یوه حصه راشی اودا اظهار اوبیان نه وی چه دا آیة اوحدیث دی .

عقد: دی ته وائی چه دبل چا یو نثر مضمون واخلی اوهغه په شعر اونظم کښې راولی .

حل: دی ته وائی چه دبل چا نظم په نثر کښې بیان کاندی، داهله مقبول دی چه دنثر سبك ، ښه او د نظم له سبکه کم نه وی .

تضمین، تلمیح، اقتباس، عقد، حل، داټول جایز دی خوچه په ښه بلیغ صورت وی -؟؟

دپښتو ادب اقتباس

(۳)

ښاغلی محمد گل خان «نوری»

ددې مضمون په تیره شماره کښې مو تر دغه پورته عنوان ددوهمی نومرې لاندی د احمد شاه بابا له ادبه اقتباس وکړ، دی موپه دې باره کښې ترملی شاعر، ادیب خوشحال خان خټك ځکه د مخه را ووړ چه د احمد شاه بابا شعر او شاعری او دپښتو دشعر او ادب لار ښوونه یو محیر العقول غوندی کار دی، ځکه چه له دونه طمطراق، او فراخ حکومت او ورځ په ورځ کامیابیو او دجنګو او فتوحاتو او نورو مشغولتیاو سره لا دده دشعر او شاعری و خواته فکر وو، د پښتو د شعر او ادب اصلاح او لار ښوونه ئې نه وه هېره کړې، که دالحاظ نه وی، نو لمړی دپښتو دادب لار ښوونکی خوشحال خان دی، البته تر ده دمخه نور ښاغلی نوموړی پښتانه شاعران او ادیبان هم شته چه څه نه څه ئې پښتنو او دپښتو شاعرانو ته یوه لار ښوولی ده، منګر خوشحال خان مونږ قریباً دپښتو د شعر او شاعری او دپښتو د ادب پلار او لار ښوونکی او موسس ګڼو:

ماخوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ
دپښتو ژبه به اوس په آب تاب شی

خوشحالخان د پښتو په شعر ویلو او دشعر او ادب په لار ښوولو کښې فوق العاده کارونه کړی دی، دخوشحال خټك دېوان به تاسی نه وی لوستی!

دخوشحال خان ددېوان او د شعر او شاعری مزایا دده ددېوان په یوه وار مطالعه کولو سره لاهم وچاته نه معلومیږی خوچه د ده دېوان څو کرته او بیابیا مطالعه او تجزیه نه شی!

خوشحال خټك د خپل شعر او د ادب په دېوان کښې د اسی مضمون نه دی پرې ایښی چه اوس یا آینده دی شاعر ورته اړ شی او دده په دېوان کښې دی نه وی؛ خوشحال خان دشعر او ادبی مکتب په هر مضمون کښې و پښتنو شاعرانو ته تعلیم ورکړی دی، او دوی ته ئی دشعر او شاعری لاری ورښوولی دی، حتی دنن ورځی دمحیط دشعر اسلوب او دشاعری طرز ئې لا دوی ته پخپل دېوان کښې معرفی کړی، او دوی ئې پر ښه لارسم کړی دی، که پښتون شاعر دخوشحال خان دېوان په غور وګوری، او دده ددېوان مضامین ولټوی او دده داشعارونکتې او هدایات ووینی هېڅکله به ودې ته اړ نه شی چه زه څنګه شعر ووایم، یا څنګه مضمون په شعر کښې راولم؛ او نه به دې ته اړ شی چه بل څوك دی ده ته هدایت ورکی چه ته اجتماعی او اصلاحی مضامین په اشعار و کښې راوړه، ځکه چه دخوشحال خان په دېوان کښې هر ډول مضمون شته، شاعر کولای شی چه سم له خپلی طبیعی غرېزې او خپل شوق سره دده په دېوان کښې لار پیدا کړی او پر هغه لار چه دده خوښه شوله رهی دی شی.

دخوشحال خان په ادبی مکتب کښې هر ډول اشعار شته، ده و پښتنو شاعرانو ته د شعر عشقی، اجتماعی، فلسفی، وطنی، اخلاقی، تربیوی، حماسی، او تصوفی او دپښتنو الی فراخی لاری ښوولی دی چه اکثره دنور وژبو دشعر او دشاعری د مدرسانو دتدریس څخه بر خلاف او سم دپښتنو دطبیعی عادت او خویو سره دی په همدې سبب دی د پښتو دادبی مکتب مدرس او موسس بلکه دپښتو داد ب پلار ګڼل کیږی تر ده وروسته ټولو دپښتو شعرویونکو او پښتو ادیبانو دده تقلید کړی دی او هم به ئی کوی ځکه چه داثابته شوی ده چه ده دپښتو دادب داسی یوه لار چه دپښتنو دطبیعی خوی او خاصیت او دپښتنو داحتیاج څخه مخالفه وی نه ده ښوولی بلکه ټولی د پښتنو د طبیعی خویو سره سمی دی.

وګوری څرنګه چه اکثره پښتانه تلون او په یوه

کو گل کښې دوه زړونه او په یوه دماغ کښې د وې ار ادی او په یوه مخ کښې د وه مخه نلری ، هو ئی تر دی اندازی هوده چه د ټینګار له حیثه د دال پر ځای دبل پښتو دال یعنی ډال ورولیدلی دی او هوډه ځنی جوړه شوی ده چه دالفظ ددوی په محاوره او ضرب المثل کښې ترقیامته په رښتیا سره ثبت شوی او وایه کیږی: (پښتون دی هوډی نیولی دی !) د پښتانه هوډه ده پښتون که سخا او مړانه کوی هم ئی په ښکاره کوی او که مینه کوی هم په علانیه او ښکاره ناری وهی چه پر مین مین یم .

هیڅ وخت ئی له چانه ډار نه دی کړی او نه ئی خپل ملی غرور داغیار او رقیب په مخ کښې دلاسه ورکړې دی او نه ئی خپل فطرتی لوړتیا دمینی په مخ کښې د لاسه غورځولی ده .

خوشحال خان چه صحیح ننګیالی د پښتو د شعر او شاعری لارښوونکی دی هم خپل ځان په خپلو اشعارو کښې معرفی کوی .

یا به سر د خپل ورمیږ به وینو رنګ کړم
یا به ښکل کړم دغه ستا شونډی ملوکی
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم
په ښکاره ناری وهم چه خوله ئی راکړه
مګر تا څخه سامان د سلطنت دی
چه په هوډمی سپینه خوله غواړی څټکه

داهم باید ووایو چه پښتانه ناحقه پایڅی نه راغړی چه مین بیله . رضا څخه لاس ته راولی بلکه لمړی چه مین هو او میثاق ورسره وکی بیانو د چا څخه نه بیریږی خپله هوډه تر سره کوی ددوی مطلب په مینه کښې هم دغه هو او هوډه ده !

که ئې سر درومی له تنه نور به نه شی
د خوشحال چه د خپل یار سره میثاق دی

داد خوشحال خان د شعر او ادبی درس عشقی جنبه وه، هو کی! څوک به برخلاف د دې دده په دیوان کښې ځنی عشقی نادر اشعار ولټوې . منګر هغه د پښتنو دمینی او عشقی درس لارښوونه نه ده بلکه هغه دبل چا او پر دیو په پېښو سره ویل شوی دی. مونږ به هغه ځانته استاد نه ګڼو ، مونږ به هغه اشعار استاد ګڼو چه هغه د پښتانه د خوی او اخلاقو او عاداتو او صفت او طبیعی روح سره سم او یوشی وی وس !

اوس به راشو ، د خوشحال خان اجتماعی او حماسی او اصلاحی ، اخلاقی ، تربیوی او نور درسونه به په لنډ صورت سره وګورو چه ده څنګه څنګه درسونه په دې باره کښې وپښتنو ته ورکړی دی !

اخلاقی او تربیوی درس :

خوشحال خان د سړی د لوړ توب او سړی توب د پاره روزنه او تربیه ضرور اولازمی ګڼی ، دی وایی چه سړی په خپل فطرت کښې دوې خواوی قبلولای شی : لوړتیا او کښته والی .

دا سړی چه فرشته دی هم شیطان دی
که سړی وخپل عمل ته نګران شی
یو په بد عمل کښې ځی تحت الثراته
بل په ښه عمل کښې پاسه پر اسمان شی

په همدې سبب دا درس پښتنو ته ورکوی چه باید خپل زامن او ځانونه تربیه کړی او د کښتو او ناوړو خلکو څخه چه د کښته والی سبب ګرزی لیری وګرزی ، او د ښو استادانو او اشرافو او اهل علم او فن سره ګډون وکړی :

تربیت که د باغوان له لاسه مومی
په هر ځای باندی ګلونه د بوستان شی
هر استاد سره چه کښېنې یو څو ورځی
د هغه هنر په ده کښې نمایان شی
د نېکانو په صحبت کښې به ښه کیږی
اولیا له اولیا نه راعیان شی
د مغلو سره کښېنا سته مغل شه
د افغان سره که کښېنی نور افغان شی
د خوشحال سره که کښېنی یو څو کاله
دا دغره څټک به واړه شاعران شی

دی وائی چه تربیه باید له وړو کوالی څخه وشی ، ځکه که په وړو هلکانو کښې له لمړی سره ناوړه کارونه پیدا شی او دوی پر همدغه ناوړو کارو لوی او په دماغ کښې ئې ناست او په عادی شی ، بیا ئې تربیه مشکله ده :

که بدخوی په چا کښې کښېنی نور عادت شی
عادت نه درومی له شخصه په تعذیر

چه وو دلې وی په ذات تو ره شړیه
سپینول ئې و هرچا و ته دی شاق

خوشحال خان د اخلاقو تبلیغ او تربیت او درس ته ډېر اهمیت ورکوی، نو ځکه دی په خپلو اشعارو کښې دښو خویو او اخلاقو تبلیغ او د بد وخویو تقبیح کوی، خوشحال خان د اخلاقو وسمېد وته ډېر اهمیت ور کوی، ځکه چه اخلاق د حیات تاد ای او د ښه ژوند ون دسمون مربی او دارتقا سبب گڼل کیږی، له همدې جهته دده د دیوان مضامین او درسونه اکثره اخلاق دی، رضا، قناعت، صبر، خاکساری، دوگړو خدمت، تحمل، په ورن تندی سره گذاره او نور ...

دا ټول درسونه دده په دیوان کښې وگوری، !

دپښتنو الی درس :

په مشکلاتو او گرانو چارو کښې ټینگار او ثبات دپښتون خاصه ده دا خوشحال خان تر ټولو ښه بولی :

که اسمان دی دزمری په خوله کښې ورکا
دز مری په خوله کښې مه پر ېږده همت

واړه زړونه فراغت وی په ښادی کښې
چه په غم کښې مردا نه شی زړه هغه

دپښتون خټه په راستی اور ښتیا سره اخښلې ده، درواغجن پښتون، پښتون نه بولی، خان هم داغه درس وپښتنو ته ور کوی :

چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رشتیا رشتیا خبرو
عالم د ځان دښمن کړم که دا عیب دی هم دی وی

چه دروغ تر خوله وباسی کله خوله ده
چه رشتیا تر خوله و باسی خو له هغه

پت، ننگ او مېړانه:

ننگیا لی د ننگ د پاره
په هر څه لگوی او ر

چه په نام و ننگ اړ نه وی
که تل ژوی مخ ئې تور

سر په دار لک شوی ښه دی
نه لک شوی پر پېغو ر

کشکی ځوان دپښتانه په ننگ کښې مړوای
نه چه گورلره روان شوله تلتکه

چه دقام په ننگ کښې ومړ هغه زویه
په عالم کښې دخپل پلار غاړه که لکه

سر دی درومی مال دی درومی پت دی نه ځی
د سړی دچاری گل خوبی په پت ده

بډ ائی او تمول ددې دپاره دی چه سړی پخپله او نور استفاده ځنی وکړی، او دنورو سره کومک وشی او دخدای پرنام او دوروز گلوی په حس ومسکین ته ورکړه شی.

چه ئې ته په گېډه وخورې ابته شی
دمجلس سره چه خوړ شی خوان هغه

دو لتمن سړی هغه بللی بو یه
چه له سینده ئې جلا دچاو اله شی

حب الوطن:

که یو ځله می رسد وشی تر سینده
نور دی مه وینم په تورو ستر گو هنده

که گذر په خیر ابا د وکړې نسیمه
یادی گښت وشی د سرای د سیند په سیمه

په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ور سره زما دلور یه څو تسلیمه

ښه په هند کښې چنبه گل دی
تر دا گل د وطن خار ښه

د سرای قدر نور چا نز ده
په خوشحال دی تر فر خار ښه

دو طن و نی چند ن اگر دی
خاوری ئې واړه مښکو عنبر دی

که سرای ونورو وته سنگړ دی
کانی ئې واړه ماته سره زر دی

دخوشحال خان په دیوان کښې داسی درس نه دی پاته چه پښتون شاعر دی ورته اړوی او هلته دی نه وی، دلته په دې باره نور قلم سو لول نه دی په کار، او نه دخوشحال ټوله درسونه او دیوان په دې مقاله کښې ځائیږی، که څوک دخوشحال خان د دیوان ټول درسونه او مزایا وی او دده اشعار تجزیه کوی لکه دخوشحال خان درې واره دیوان غوندی کتاب باید پرولیکی که څوک نورو درسونه احتیاج وی دخوشحال خان «۱۱۲۸» مخه دیوان چه ښاغلی حبیبی په قندهار کښې طبع کړی دی په غور دې وگوری، دا مقاله موهم سرسر کی دهغه دیوان دمقدمې څخه را اخیستې ده، دنورو پښتنو شاعرانو او لارښوونکو درسونه به بیا په بله گڼه کښې که ژوندو ونشر شی. (نور بیا)

کره کتنه

دنورو ژبو دکلماتو استعمال

په پښتو کښې

ښاغلی محمد اعظم « ایازی »

خدای تعالی نه یوازی انسان ته دعقل او پوهی ماده ورکړی ده بلکه ددنیا یوه داسی قیمتی مرغلره ئی هم ور بخښلی ده چه دهغی په واسطه خپلی ټولی تجربی مشاهدی اوعلمی معلومات یوپربل باندی ښکاره کوی اودنورو دافکارو اومعلوماتو څخه گټی اخلی ، هر کله چه انسان پر بیلو بیلو قومو وېشل شوی دی او هر قوم بیل بیل ځای استوگه لری اوپه بیله بیله ژبه وینا کوی ، نوله دی وجه نه په دنیا کښې بیلی بیلی ژبی پیدا شوی ، ژبه چه دانسان دمطالبو دادا کولو اودخیالاتو دظاهر ولو دپاره یوه مخصوصه آله ده او دانسان ټولی ښگېړی په دی سره اړه لری ، نوله دی وجه نه اکثره قومونه دخپلی ژبی د ترقی وخواته متوجه شوه اوډېر زیار او کوښښ ئی وکړ ، چه هغه وسایل چه دژبی په ترقی اړه لری راغونډ کړی . چه دیوی خوا د ژبی په الفاظو کښې روانی ، فصاحت اوبلاغت پیدا شی اودبلی خوائی په عبارت کښې یوداسی اثر پیدا شی چه داورېد ونکو زړونه او توجه د خپلی خواته راکش کړی ، نو ددی مطلب دحاصلولو دپاره ئی هغه علوم ایجاد کړه چه په هغو سره ژبه د فصاحت ، بلاغت او ادبیت خاونده کیږی اوپه تحریر اوتقریر کښې ئی روانی پیدا کیږی وداسی علومو ته دژبی ادبیات او قواعد وائی چه بیله دی علومو ژبه هېڅکله علمی اوادبی جامه اغوستلای نه شی ، د ژبی ادبی اصول او قواعد دژبی داصلی محاوری څخه اخستل کیږی ، دژبی پوهان اواد باپه کښې پلټنی کوی چه دژبی دمحاوری څخه دژبی قواعد اوادبی اصول راغونډ کړی ، د غواصولو ته دژبی ادبی اصول او قواعد وائی چه ، اساس ئی دژبی پر محاوری باندی ایښودل شوی دی ، هیڅ ژبه تر هغه وخته پوری دتکمیل ودرجی ته رسیدلای نه شی چه ادبی اصول او قواعد ئی مرتب اوسم نه شی دا یو تاریخی حقیقت دی ، چه مونږ باید دبېغوری او غفلت په نظر ورته ونه گورو ، اوداسی ونه شی چه دژبی د ترقی اصلی وسایل پر یږدو او په فروعاتو ئی بخت شو ؟ پښتو چه زمونږ خوږه اومورنۍ ژبه ده اودپښتنو علمی اجتماعی ، اوسیاسی ترقی به دی سره اړه لری او اوس د علمی او ادبی ذخیرو په لحاظ ترنورو علمی ژبو وروسته پاته ده مگر یوه قدیمه اوپراخه ژبه ده او هر ډول علمی اوادبی استعداد په کښې ډېر دی ، بلکه زه ویلای شم چه په ډېرو مزایاؤ کښې تر اکثر وژبو پراخه ده ، په شرط ددی چه پښتانه ادبا ددی و خواته د زړه دمینی متوجه شی اودادبیت اوفصاحت وسایل یی راغونډ کړی ، که مونږ دمختلفو خلقو پرطرز کلام او تحریر باندی ښه فکر او غور وکړو ښه به راته ښکاره شی چه دځینو خلقو کلام او تحریر علاوه تر دی چه ساده اوسلیس دی ژر په فهم او ذهن کښې هم راځی ، ژر اوپه آسانی سره نتیجه ځنی اخیسته کیږی

سبب ئی دادی چه ردوی ته د مطلب دا اکولو سمه او صحیح لار معلومه ده او د ژبی د اصلی ادبیت څخه واقف وی، نو هیڅ یوه فاحش غلطی نه ځینی کیږی، چه په ژبه کښې دی ثقالت پیدا کړی، یوی ژبی دپاره ډیر کوښښونه په کار دی چه ښه تحریر او تقریر قابله شي خبری او لیکه خو هر څوك کولای شی لیکن موثری خبری هغه دی. چه اوریدونکی خوند ځینی واخلی او د سحر په شان پر زړو باندی خپله اغزه وکړی، پر داسی کلام باندی قدرت حاصلول څه اسان کار نه دی بلکه یو ډیر مشکل کار دی، نو لازمه ده چه زمونږ د کلام حسن او قبحه ښه و پیژنو چه غلطی را څخه و نه شی او په عبارت کښې مور وانی او تاثیر پیدا شی چه دغه کار هم د ژبی په قواعد او ادبیت سره اړه لری، نن چه مونږ د خپلی ژبی د ترقی پر وسایلو نظر اچوو داسی راته ښکاره کیږی چه ځنی ادباوئی د ترقی سبب دامیندلی دی، چه خارجه الفاظ باید د ژبی څخه وایستل شی او دهغو پر ځای هغه غیر مروج او خود تراشیده د پښتو الفاظ استعمال شی لکه چه زمونږ اکثره ادبا اوس په دی مرض اخته شوی دی، لیکن حقیقت خود ادی چه د ددوی سهو او غلطی ده، ولی چه په دی سره ژبه هیڅکله د ادبیت قابله او د سلاست فصاحت او بلاغت خاوند کیدلای نه شی، بلکه دا تحریك د ژبی دپاره ډیر مضر او په ژبه کښې ډیر ثقالت او مشکلات پیدا کوی او د ژبی پر مخ تك بند وی دا یو لوی بند ښت دی چه مونږ ئی په لوی لاس د خپلې ژبی د ترقی په لار کښې پیدا کوو که څوك د دنیا د ژبو تاریخ او موجوده حالت د انصاف په کتنه وګوری ښه به ورته ښکاره شی چه هیڅ منت د خپلې ژبی د ترقی دپاره داسی وسله تر اوسه نه ده استعمال کړی او نه به ئی استعمال کړی، بلکه هغه خارجی الفاظ چه د دوی په ژبو کښې ئی ځای نیولی دی او په ژبه کښې ئې عام رواج پیدا کړی دی او هر څوك ئی په مفهوم هم ښه پوهیږی، په هغو ئی هیڅ دخل نه دی کړی بلکه هغسی ئې پر خپل حال پری ایښیدی او اوس د هغی ژبی جز ګرزیدلی دی وګوری د مغربی (اروپائی)

ژبو ته، چه هره یوه ئی د نورو ژبو د الفاظو څخه ډکه ده، مګر بیا ئی هم ادباؤ هیڅکله دا کوښښ نه دی کړی چه دا د خپل الفاظ دی د ژبی څخه وباسی او نامانوس، غیر مروج او خود تراشیده الفاظ دی پر ځای استعمال کړی، دغه رنګه د مشرقی ژبو حال دی، لکه عربی، ترکی، فارسی اوردو. وغیره چه د خارجه ژبو د الفاظو څخه ډکی دی او ادباؤ ئې د دغو الفاظو دلری کولو دپاره هیڅکله کوښښ نه دی کړی او هم دغه رنګه ئې پر خپل حال پری ایښیدی، بلکه دا ئی د خپلی ژبی یو زینت ګڼلی دی نو د دی څخه دا په ښه ډول ثابتیږی چه دا کوښښ بیخی بیځایه او غیر مفید دی، بلکه په عوض د دی چه په ژبه کښې اسانی او روانی پیدا شی، ژبه د ثقالت او مشکلاتو ډکوی او د فائدی پر ځای نقص ور رسوی که دا تحریك ښه او مفید وای، نو د مشرق او مغرب ادباو به هم کوښښ په کښې کړی وای.

زمونږ د ژبی یو بل مهم مزیت دادی چه د جذب او تحلیل قوه خو را په کښې ډیره ده، ځینی ژبی چه دغه مزایانه لری ادبی استعداد ئی هم لږ دی، لیکن پښتو د نورو ژبو څخه ډیر مفید مواد خپل ځان ته را کشوی او په خپل ځان کښې تحلیلوی، چه بیا ښه ه پیژندل کیږی چه دا کلمه د بلی ژبی څخه اخستلی شوی ده او که د پښتو خپله کلمه ده زمونږ په ژبه کښې ډیر داسی پر دی مواد شته، چه ژبی د خپل ځان وخواته را کش کړی او تحلیل کړی ئی دی او اوس هیڅکله داسی کلمات پر دی نه ګڼل کیږی. او هر څوك ئی په مفهوم ښه پوهیږی بلکه د خپلی ژبی کلمات ئی ګڼی، پښتو چه کمه کلمه د بلی ژبی څخه را کشوی نو داسی ئی و خپل ځان ته را جلبه کړی چه هیڅ نه پیژندله کیږی چه دا پر دی کلمه ده یا خپله، و داسو کلماتو ته مونږ مفغنات وایو، دا کلمی زمونږ د ژبی بهترین مواد دی، او دا مزیت چه زمونږ په ژبه کښې پروت دی، ښه ئی چه مونږ د خپلی ژبی په روز نه کښې کار ځنی واخلو، نه دا چه د خپلی ژبی څخه ئی، و باسو دا ښکاره خبره ده چه د ژبی په علمی او ادبی کولو کښې اوس مونږ و داسو نو ونو کلماتو او لغاتو ته

اړیو چه په علمي ترا جمو او د فنونو په انتقال، کښې کار ځنی واخلو، مفغنات وهغو پرد ولغاتو او کلماتو ته وائی چه په پښتو کښې ئی داسی ځای نیولی وی، چه اوس مونږ وهغو ته دپښتو کلمات ویلای شو، اودا مفغنات دپښتو دژبی یوه لویه سرمایه ده مونږ باید داد خپلی ژبی څخه ونه باسو او کار ځنی وا خلو، ولی چه په دنیا کښې هیڅ ژبه دداسو کلماتو څخه خالی نه ده اوپه هره ژبه کښې ئی ځای نیولی دی او اوس دهغی ژبی جز گرزېدلی دی، نومونږ هم باید داډول کلمات چه زمونږ په ژبه کښې مروج شوی دی، پرې نږدو، دادپښتو دمزایاوڅخه ده، چه پردی کلمی په خپل ځان کښې جلبوی، اووهغو ته دپښتو شکل ورکوی؛ مفغناتو زمونږ په ژبه کښې دملیت اوتابعیت پوره حق حاصل کړی دی اواوس دپښتو کلمات منل کیږی د پښتو مفغنات د وه ډوله وی، (۱) بدل شوی مفغنات (۲) معنوی یادخیل شوی مفغنات؛

بدل شوی مفغنات وهغو مفغناتوته وائی چه دپردو ژبو څخه په پښتو ژبی کښې داخل شوی وی، لیکن په شکل یاحروفو کښې ئې څه تغیر پیداشوی وی، داسی مفغنات پردوه ډوله دی، یو هغه کلمات دی چه فقط ظاهری شکل ئی لږڅه اوښتی وی اومعنی ئی پرخپل حال پاته شوې وی، یاحروف ئی پرخپلو ځایو په هم مخرجو حروفو بدل شوی وی اود کلمی په شکل کښې ئی یوانقلاب پیداشوی وی، په دې ډول کلماتو کښې عموماً (ش) په (ښ) (ب) په (پ)، (ج) په (ځ)، (چ) په (څ)، (ب) په (و)، (ز) په (ژ) او(ف) په (پ) بدلیږی مثلاً د (پشیمان) څخه (پښیمان) د (سبك) څخه (سپك) د (جوان) څخه (ځوان) د (هیچ) څخه (هیڅ) د (آبدست) څخه (اودس) د (روزه) څخه (روژه) د(فراخ) څخه (پراخ) جوړ شوی دی، داسی کلمات په پښتو کښې ډېر دی، دوهم هغه کلمات دی چه ئی هم خپل ظاهری شکل بدل کړی وی اوهم ئی په معنی کښې تغیر پیداشوی وی، مثلا (اسی) کلمه چه د عربی د (عاصی) کلمی څخه مفغنه شوې ده عرب (عاصی) ته گنهگار وائی لیکن په پښتو کښې (اسی) وبخیل سړی ته وائی، اود (تاو) کلمه چه د (تاب) څخه مفغنه شوې ده په فارسی کښې (تاب) وطاقت او تابیدن ته وائی لیکن په پښتو کښې (تاو) وشدت اوتیزی ته وائی، مثلاً په پښتو کښې وائی (احمد په تاوراغی) یعنی احمد به شدت وتیزی آمد، یا (خوله می تاو کوی) یعنی دهنم سوزش میکند او (ناره) چه دعربی کلمی (نعره) څخه مفغنه شوې ده دغه ډیری داسی کلمی شته چه دعربی او فارسی څخه مفغنی شوی دی؛ اوپه پښتو کښې ئی داسی ځای نیولی دی چه اوس مونږ هغه دپښتو کلمې گڼو.

لنډه دا چه مفغن او د خیل کلمات په پښتو کښې ډېر راغلی دی او دپښتو ژبی جزو گرزېدلی دی نودا ډول کلمی دپښتو ژبی څخه لری کول او د هغو پرځای نامانوسه او غیرمروج اوخود تراشیده الفاظ استعمالول گویا دپښتو ژبی علمی سرمایه لږول دی، اوپه ژبه کښې په لوی لاس انقلاب اوثقالت پیدا کول دی چه هیڅ فائده پرمرتبه نه ده، دارنگه کلمې نه یوازی په پښتو کښې داخلی شوی دی بلکه ددنیا په ټولو متمدنو ژبو کښې داخلی شوی دی، لری مه ځی، وگوری وفارسی ته چه دعربی او نورو ژبو څخه ئې ډیری کلمی اخیستی دی که دا کلمات دفارسی ژبی څخه وایستل شی، یقین دی چه فارسی به یوه وچه ژبه پاته شی، زمونږ اکثرادبا په عوض ددې چه دژبی ادبیاتو ته ترقی ورکړی اوپه ژبه کښې علمی او ادبی استعداد پیدا کړی، اوس په دی مرض اخته شوی دی چه مفغن اودخیل کلمات چه زمونږ دژبی یوه لویه ذخیره ده یوی کړی اوپر ځای ئی نامانوس غیر مروج الفاظ استعمالوی چه بیله نقصان نه بله هیڅ فائده نه لری، بلکه د دوې دااقدامات ژبه دعلمی اوادبی ترقی څخه وروسته پاته کوی، مثلاً د (کاغذ) کلمه چه اوس ئې زمونږ په ژبه کښې عام رواج میندلی وی اوهر پښتون ئی په معنی اومفهوم هم ښه پوهیږی لیری کړو اوپر ځای ئی یو داسی لفظ راوړو چه ډیر پښتانه ئی په معنی اومفهوم نه پوهیږی لکه (چغزی) ایاوداسی اقداماتو ته دژبی خدمت یااصلاح ویل کیږی یه؟ « نور په ۲۶ مخ »


علمی څېړنی

له خارجی علمی مجلو څخه :

زمونږ نړی (؟)

دساغلی « سیفی » اقتباس

په دنیا کښې علمی افکار او نظریات خوراډیر دی چه له دغو څخه ځنی دعلم له بلوه مسلم او مثبت ګڼل کیږی، او ځینی نظریات داسی دی، چه علماؤ ښکاره کړی دی، مګر تر اوسه هم په مثبت ډول نه دی منل شوی، دمځکی دکرې په خصوص کښې هم دغسی علمی نظریات شته، خو ځینی لا تر اوسه مسلم حد ته ندی رسیدلی. دکابل دمجلې په علمی برخه کښې ځینی افکار ترجمه کیږی، چه په دنیا کښی مشهور دی.

اوزمونږ مقصد فقط دادی. چه دنوری دنیا دعلماؤ اوپوهانو له علمی افکارو څخه څه نه څه خبر شو، البته دهر چا اوهر جماعت عقاید بیل دی.

داخا ورینه ځمکه یا په بل عبارت دیوې نامعلومی زمانې څخه دبشر داو سېدلو ځای څه رنګه جوړه شوه ؟ -- له کوم وخت څخه چه دانړی پیدا شوې او بشر پردې نړۍ پښه ایښولی اوسترګی ئې غړولی دی له هغه وخته تر اوسه پوری بشر داوینی چه تل لمر داسمان دلمر خاته خوا څخه را خېژی اوکرۍ ورځ دآسمان په شنه ډنډ کښې لامبووهی اودورځی په وروستی برخه کښې دی ددغه ډنډ دلمر پرېو اته خوا څنډی ته ځان رسوی اوپه دغه څنډه کښې دبشر له سترګو څخه پناه کیږی. انسان دشپی په تیاره اوتر وږمۍ کښې داسمان په فضا کښې ځینې دمعشوقو دسترګو او ځینې دغمو په شان بی شمیره ښکلی او ځلاند ستوری وینی ؛

اوهم داانسان دځمکی په مخ کله دپسرلی خوږې وږمی اوسمسور باغونه اوراز راز شیلې او ګلان وینی. او کله دد وبی، اوړی تاوده بادونه اوبروګانی، او کله دژمی اوسیلی ساړه بادونه او دخزان ورانووکی منظرې وینی - او داهم وینی چه دا ټول موسمونه په خپلو خپلو مقررو او ټاکلو شوو وختونو راځی اوپه یوبل پسی مسلسل تېرېږی لیکن انسان ترننه پوری دا خپله ګرانه مور یعنی ځمکه په پوره ډول ونه پېژند له اونه په دی پوه شوه چه دا څه رنګه ده ؟ اودډېرو مو دو څخه داسوال دده په مغزو کښې ګرځی. کائنات دمدارۍ کڅوړه ده چه هر وخت له دی کڅوړې څخه محیر العقولی کرشمې او نا اشنا شیان میدان ته

« پاته ده ۲۵ مخ »

بلکه دا یو دروند باردی چه مونږ ئې پر خپلی ژبی باندی اچوو، اودترقی اوپرمخ تیالار ئی بندوو، دایوداسی باردی چه زمونږ ژبه ئې هیڅکله متحمله کیدلای نه شی زما په خیال دایو خبط دی چه زمونږ دځینو ادباو په دماغ کښې پیداشوی دی، اودژبی د ترقی سبب ئی ګڼی، لیکن په حقیقت کښې دایولوی نقصان دی چه مونږ ئې دخپلی ژبی ته رسوو، که دا اقدامات ښه واې نو دورو ژبو ادباو به هم په خپلو ژبو کښې اختیار کړی وای دداسی اقداماتو بندول ډېر ضروری دی، که په ژبه کښې به یو لوی انقلاب پیدا شی

راوځي؛ اوانسان لهپخواڅخه ددې خبرې هيله درلوده چه ددې نا آشنا معلوماتو اوکرشمو څخه تريوې اندازې پورې ځان خبر کړي

پخوانو خلکو په دې ليار کښې ډېر لږ معلومات لرل، اوهم دا سبب وچه دوی په دغه عجائباتو دپوهيدلو دپاره رازراز افسانې جوړې کړې؛ لکه چه ديونان په پخوانو کيسو کښې د «لمر-اپولو» په خصوص کښې پخوانو خلك ويوه خوږه افسانه ليکلې ده چه دهغې لنډ مطلب دادی: دور ځي په رڼا کښې چه دډاګونو اورغو معشوقه «ارورا» دشپې ارغوانی ورو ه بېرته کړی نو په دغه وخت کښې (اپولو) په خپلې طلا رنګې ګاډۍ سپورشي اود اسمان په فضا کښې خپل سفر شروع کړی.

دپخوانو بېړو په هرقام کښې دارار ډېرې افسانې موندلې کيږي اوپخوانی خلك به چه په کوم ځای کښې دکائناتو دعجائباتو په پوهېدلو بند پاته شول، نو په دغه وخت به ئې په دې موضوع کښې خوږې قصې اوافسانې جوړولې-او په دې افسانو به ددغه خلکو زړونه اودماغونه تريوې اندازې پورې آرام کېدل.

دکائناتو پټو فطرې اسرارو د دنيا په لمړو اوسيدو نکو باندې داسې رعب وغورځاوه چه هغوی دخپل خيال په سيورې کښې دغه عجائبات په خدايي ومنل. اودهغوی عبادتونه اوبنده ګۍ ئې شروع کړه ليکن دکائناتو دقوانينو او نظام په کتلو دد وی په زړونو کښې ديو داسې واحد لاشريك خدای دوجود فکر پيداشو چه هغه ددې ټولو کائناتو دنظام ناظم دی.

چه څو مره زمانه تېرېد له ورو ورو د نړۍ په خصوص کښې دانسان معلومات هم زياتېدل اوددې معلوماتو په سيورې کښې په دغه اندازه ددوی خيالات او افکار هم ورو ورو بل ډول کېدل. ترڅو پېړيو پورې دځمکې دشکل اوصورت په خصوص کښې دخلکو تصورات اوخيالونه بالکل له اوسنيو افکارو څخه بېل و هر کله چه مونږ دځمکې په ظاهرې شکل نظر کوو نور په دې صورت کښې ځمکه مونږ ته غونډه نه بلکه پلنه غوندې معلومېږي- هغوی دځمکې دشکل اوصورت په خصوص کښې پوره پلټنې هم نه وی کړی، اوهغوی ته چه څه په سترګو ښکارېدل هم په هغه شان به ئې ورته دسر په د سترګو کتل - په کوم وخت کښې چه څو پېړی پخوا په يونان کښې دعلم او پوهنې انګازې پورته اوخپرې وی او د حکمت اوعلم رڼائې په دنيا کښې خپره وه، په دغه وخت کښې اکثرو پوهانو دا خيال درلود چه ځمکې غونډه منډه او ګردۍ ده له دې پوهانو څخه د يوه پياوړی يوه دا نظريه وه چه په کوم وخت کښې سپوږمۍ تندره نيسي نو په دغه وخت کښې دځمکې سيورې دلمر اوسپوږمۍ په مينځ کښې حائل کېږي - او هر کله چه په دې سيورې کښې انحنا وی نو په ځمکې کښې بايد هم انحنا موجوده وی، ځکه چه دادهغې سيورې اصل دی.

له ډېرو پېړو څخه دخلکو داخيال وچه لمر دځمکې څخه ګير چاپېره چورلی، او دا ځکه بالکل يوه قدرتي خبره وه چه انسان تل دا منظره ليدله چه لمر دسبا په وخت کښې د آسمان د يوې ډډې څخه را خېژي اوماښام د آسمان په بله څنډه کښې پرېوځي، اوله دې کبله انسان په دې مفکوره مجبور شو - په څو رلسمه پېړی کښې «نکو لاس» نومې پياوړی يوه پيداشو اوهغه دځمکې او يا په بل عبارت ددې خاورينې کړی په خصوص کښې په حقيقي ډول تازه معلومات ميدان ته را ويستل.

نکو لاس د کوچنی والی څخه د فطرت عاشق و اوهر کله چه دی لوی شونوده دفلکياتو په مطالعاتو پيل وکړ اودی په ټوله شپه دخپل ښار د کليسا په جګه مناره کښې ناست اوداسمان په صفحه کښې به ئې مطالعه کوله، دی دفطرت عاشق و، دخپل ځلمی توب دخوږ عمر ډېرې شپې ئې په دغه مناره کښې رونمی کړې او د خپل عمر يوه قيمتي برخه ئې داسمان په مطالعاتو کښې تېره کړه اوپه دې وخت کښې ده دفلکي اجرامو په خصوص کښې ډېر کتابونه پيدا کړل اوهغه ئې هم مطالعه کړل اوددې کتابونو اوداسمان دصفحې دډېرو مطالعاتو څخه ور وسته دی دې حقيقت ته ور سېد چه پخوانی

پوهان په خپله دی نظریه کښې تېر و تلی دی چه لمر د ځمکې د کرې څخه ګېر چاپېره چورلی ؛ نکولاس ولیکل چه دلمر طلوع اوغروب د ځمکې دګرد ش څخه پیدا کېږی نه دلمر دګرد ش څخه؛ مونږ ته داسی معلومېږی چه لمر چورلی اوګرد ش کوی، نکولاس دخپل سپین ږیر توب په وخت کښې په دی خصوص کښې یو کتاب ولیکلی اوپه دغه کتاب کښې ئې خپل نظریات سره دضروری تشریحاتو ولیکل، لیکن ددغه کتاب دچاپ کېدلو څخه څو ورځې وروسته دی مړ شو .

نکولاس په تجربو سره دغه خپل نظریات ځکه ثابت نه کړای شول چه په دغه وخت کښې دفلکی اجرامو دکتلو دپاره بې له ستر ګونور آلات نه واختراع شوی، بلکه په دغه وخت کښې دفلکیاتو جزئیات لاڅه چه دفلکی اجرامو په پوره لېدلو هم څوک نه وو کامیاب شوی ، او داسمان ډېر ځایونه لاهم چاپه پوره ډول سره نه ولېدلی .

دنکولاس تر مرګ ډېره موده وروسته (عدسی) اختراع شوې اوددغه نو و اختراع شو رشیا نو په ذریعه دانسان نظر ډېر قوی شو، ددې عدسو په خصوص کښې یوه خوږه قصه په دې ډول لیکل شویده چه « تقریبا درې سوه کاله وړاندې په هالینډ کښې » یو « سپرشی » نومی عینک ساز اوسید یوه ورځ دغه سړی په خپل دکان کښې په خپل کار مصروف و، اودده ذووکو چینو زامنو په عدسو باندی دباندی ددکان په خوا کښې لوبې کولې، دغه کو چنیانو دوې عدسی یوه دبلی د پاسه کښېښوې او په دغه عدسو کښې ئې دکلیسا دیولیری منارې کتل شروع کړل، دغه مناره په دغه عدسو کښې دی کو چنیانو ته دومره نږدې ښکاره شوه چه دغه کوچنیان اریان پاته شول اود ډېری خوشحالۍ څخه په شور ګډ شول، ددوی پلار ددوی په دغه شور دخپل دکان څخه راکښته شو اوده هم ددغه عدسو په ذریعه دغی منارې ته کتل شروع کړل ده په دغه عدسو راز راز تجربی شروع کړې . »

وروسته لې دغه دواړه عدسې داسانتیا له خاطره په یوه نلکه کښې ټینګی ونښلولې اوپه دغه نلکې باندی ئې لېر لید (دوربین) نوم کښېښود. دې نلکی د خلکو توجه ځانته جلب کړه اوچا د اخبره د ایطالیا پیاوړی سائنس دان ګلیلو ته ورسوله؛ ګلیلو داکار دفلکیاتو دمشاهدې د پاره ډېر ضرور او ښه وګاڼه ، او دیو لېر لید په جوړولو ئې پیل وکړ ؛ دې پیاوړی یوه د دې شی په جوړولو کښې ډېره موده زیار وویست ، اودخپل زیار او تجربو په اړ کښې ده دوې عدسې جوړې اوهغه دواړه عدسې ده په یوه نلکه کښې په دې شان کښېښود لې ، چه ډیوې منځنی خوائی دباندی او دبلی عدسی منځنی خوائی دننه خواته کړه .

ده ته داخبره ښکاره اوثابته شوه چه په دې سره هرشی غټ لېدل کېږی ؛ یوه شپه اسمان صاف ؤ په دغه وخت کښې ده دغه خپل دوربین داسمان خواته ونیو ؛ اوده ددغه دوربین په ذریعه په اسمان کښې دارازشیان اوځایونه ولیدل چه پخواده نه ولیدلی، په دې کاردی ډېر خوشحال شو او دا لمړی لېر لید وچه ګلیلو ددغه په مرسته داسمان عجائبات ولیدل .

ددې لېر لید په ذریعه به هره شپه د ګلیلو معلومات زیاتېدل اوده ددغه « دوربین » په ذریعه ټول اسمان چاڼ کړ اودفطرت اسرار ئې دیوې اندازی پوری حاصل کړل کومی خواته چه به ده په لېر لید کښې کتل نوی نوی ستوری به ئې لیدل ، یوه شپه دی د خپل دوربین په ذریعه دمشتری « جوپیتر » په مطالعه بوخت وددې مطالعی په اړ کښې ده ولیدل چه دمشتری لمړ خاته خواته دوه او دلمړ پراپوته خواته یو ستوری ځلیږی د دې واقعی په لید او ډېر حیران پاته شو دوهمه شپه ده ولیدل چه دغه دړیواړه کوچنی ستوری د مشتری لمړ پریوا ته خوا ته ځلیږی دینه وروسته خوشپی پر آسمان کښې وریځه وه او له دې کبله ده خپلو مطالعاتو ته دوام ورنه کړشو ، اوهر کله چه آسمان شین شو نو په دغه شپه ده دمشتری لمړ خاته دوه ستوری ولیدل . او یو بل کوچنی شان بل ستوری هم ده ولید ، له دغو مشاهداتو څخه دې نتیجې ته ورسید چه داخلور واړه ستوری دمشتری طواف کوی

اوهم دغه شان ده نور واړه واړه ستوری هم ولیدل چه هغه دنورو سیارو گیر چا پیره طواف کوی ، له دې تولو مشاهداتو په سیوری کښې گلیلوته دا خبره ښکاره اوثابته شوه چه دنکو لاس دا نظریه بالکل صحیح ده ، چه لمکه اونور ستوری د لمر څخه گیر چا پیره گردش او طواف کوی اودی په دی نظریه کښې په حقه و .

د گلیلو ددی انکشاف خبر په دنیا کښې خپور شو اودې نوی او نا آشنا خبر دخلکو په افکارو کښې یو نا آشنا حیرت پیدا کړ اود هری، خوا وهر ملکه به دعلم اوفن شوقیان دلې دلې د گلیلو خواته راتلل لیکن هر کله چه د گلیلو افکار او نظریه په دې خصوص کښې دیخوا نوزړو نظریاتو څخه ډېر مخالف اوبل شان و؛ اویخوانو افکار ودخلکو په مغزو کښې پوره ځای نیولی و، نوله دې کبله تر ډېری مودې وگړی دده دنظریاتو منلوته تیار نشول ؛ د کلیسا په خلکود گلیلو دغه خبری ډېری بدی ولگیدلی ، اودا لمکه چه ددوی عقیده داوه چه لمکه دتولو د کائناتو مرکز دی او ددې مفکورې په اثر د کلیسا خلکو گلیلو ددې راز افکار و دښکاره کولو اوخپرولو څخه منع کړ، لیکن گلیلو دهغوی ددې حکم په جواب کښې یو کتاب چاپ اوخپور کړ،اوده یه دغه خپل کتاب کښې دخپلو نظریاتو داثبات دپاره ډېر زیار کښلی او کافی دلائل ئې یکښې راوړی و، د کلیسا ذ حکم څخه د خلاف په اثر دی روماته ر اوغوښتل شو؛او محکمې دی ددروغواو بد و عقائد ود تبلیغ مجرم وگاڼه او له ده څخه ئې د دې خبری اقرار وا خست چه بیا به د دی را زبدو عقائد وتبلیغ نه کوم .

سره ددې هم د نکو لاس اوگلیلو زیارونو او نظریاتو دلمکی په خصوص کښې دخلکو په افکارو کښې یو ډېر لوی انقلاب پیدا کړ ، اوپه دغه وخت کښې د یورپ اکثر ومفکرینو تر یوې اندازی پوری ددوی نظریات رښتیا وگڼل .

که دا خبره ومنل شی چه لمکه د پنډوس په شان کره اوغو نډه ده نو په دی صورت کښې داسوال پیدا کیږی چه داخه رنگه ولاړه ده ؟ - اوپه دې باندی داشیان خه رنگه استوگه کوی ؟ -اوداراز نور ډېر سوالونه دمفکرینو په مغز و کښې گرځی.

پخوانو پوهانو ددې خیال په اساس چه د لمکی په مخ دهر شی دقیام دپاره یو اړم او داسی شی ضرور دی چه هغه شی په هغی باندی ودرېږی - دوی داخیال وکړ چه لمکه به هم په یوشی باندی ولاړه وی- پخوانو هند وانو داعقیده لرله چه دلمکی لاندی یولوی دریاب دی او په دغه دریاب کښې یوه ډېره غټه اولویه شمشتی ده اوددغه شمشتی په شا څلور ډېرلوی پیلان ولاړدی .

اوداد لمکی کره د دغه پیلانو په شا پرته ده ؛ دیخوانو یونانیانو دا عقیده وه چه یو ډېر قوی «اطلس» انسان دخپلو معبودانو څخه بغاوت وکړ اوددغه بغاوت په اثر دغه قوی انسان ته دا سزا ورکړ شوه چه دی په یولوی دریاب کښې ودرول شی اولمکه دهغه په اوږو باندی کښېښو شی .

خو پېړی وړاندی «اسحاق نیوتن» نومی د سائنس پیاوړی پوه په خپل یو باغ کښې گرځید ، اوپه دی پورته سوالونو کښې لګی فکر کاوه؛ دی په دی فکر کښې بوخت و چه ناڅاپه دیوی ونی څخه مڼه په لمکه کښته راپریوتله ددغی مڼې په اوازدی ورته ملتفت شو اوفوراً ئې په مغزو کښې داخیال پیدا شو چه مڼه پر لمکه ولی راپریوتله؟ نیوتن دخپل ځان او ضمیر څخه دا یوښتنه وکړه، اوددې فکر څخه ئې پخپله ددې سوال په جواب کښې وویل :چه دا لمکه چه دا مڼه لمکی خپلی خواته جذب کړه - وړو وړو دی سوال دده په دماغ کښې ځای ونیو، اودا مفکوره ئې په دماغ کښې کښېناسته چه لمکه دخپلی خو اوشا هر شی خپلی خواته په خپل قوت سره جذب کوی؛ ده ددې قوت نوم دتجاذب قوت کښېښود. اوددې فکر په سیوری کښې دی دې نتیجې ته ورسید چه لمکه او نوری سیاری په خپل منځ کښې دجذب تر نظام لاندی په فضا کښې ولاړی دی. دنیوتن له دې نظریې څخه انسان ته دا خبره معلومیږی چه د آسمان په فضا کښې ټول فلکی اجرام دلمر څخه گیرچا پیره طواف کوی اوداټول دیولوړ قدرت اواعجاز په اثر په فضا کښې ولاړ دی !!



تاریخی یادونی

ځکه چه دتېرو ګڼو پله پسې مضمون دې ګڼې ته نه راورسېدی، نوددې شمارې په تاریخی برخه کښې یوڅو تاریخی یادونی لیکم (حبیبی)

جروم

په اکثروعربی اوپارسی تاریخی کتابونو کښې دغه کلمه راځی، اودافغانستان له تاریخه سره رابطه لری، نوپه لاندی لیکو کښې تاریخی څېړنه کېږی.

له قدیمه زمونږ دوطن جنوبی مځکې چه د قندهار دجنوب غربی ریګستانه شروع اوتر سیستانه رسېږی «گرمسیر» بللی شوی، اومقابل ئې سړې خواوی «سردسیر» بولی.

پس له اسلامه چه په لمړۍ هجری پېړۍ کښې عرب زمونږ وطن له دغرب له خوا راغلل، دوی د عربی ژبې پر اساس پارسو گرم دتعریب پر اصولوسم په (جرم) واړاوه، اوسردیعنی سوړ ئې هم (صرد) کړ.

اصطخری وایی چه دوی دتودو او سړو مځکو دنباتاتو پر تقسیم برابر، دغه مځکی په جرم اوصرد وو ېښلې، گرمسیر ته ئې «جروم» او سرد سیر ته ئې شمالاً «صرود» وویل (۱).

دعربو دژبې پر اصطلاح سم دوی جرم په جروم اوصرد په صرود جمع کړل، اوځکه چه د دوی لمړی راتګ زمونږ وطن له هم دسیستان له خواؤ، نو دوی دغه مځکی «جروم» بللې.

بلا ذری دسند په فتوحاتو کښې هسی لیکې: چه عبادبن زیاد له سجستانه هند مند (هلمند) او کش اوقندهار ته ولاړ ابن مفرغ وایی:

کم بالجروم وارض الهند من قدم
ومن سرانیک قتلی لاهم قبروا (۲)

په دې بیت کښې هم مقصد له جرومه هغه گرمسیراو دقندهار جنوبی غربی برخه ده.

له تاریخ بیهقی څخه داسی ښکاری، چه دگرمسیر کلمه لکه چه اوس متداوله ده، په غزنوی عصر کښې هم دغسی مشهوره او پر خولو جاری وه، لکه چه په یوه ځای کښې هسی لیکی «بوبکر د بیر بسلامت

(۱) جغرافیای تاریخی بارتولد ص ۱۹٤ پارسی ترمغل دمخه ص ۱۹
(۲) فتوح البلدان ص ٤٤٠

رفت سوی گرمسیر ، تاازراه کرمان بسوی عراق ومکه رود (۱)

مگر دگرمسیر دکلمي په‌مقابل کښي « جروم » هغو خلقو استعمالاوه ، چه‌دوی خپل آثار په عربی کښل، بائي د عربی جغرافیا لیکونکو پیروی کوله.

مثلا ابوریحان البیرونی چه خپل اکثر کتب‌ئی په عربی ژبه کښلی دی ، دغه‌معرب اصطلاحات لیکی لکه چه وایی « ماذکرناه من‌الجبال الصردة » (۲) چه مقصد ئي سرد سیر غرونه‌دی .

منهاج‌السراج‌هم‌دجروم اصطلاح عیناً پر اوسنی گرمسیر باندی اطلاقوی ، اودزابل او تکناباد په جمله کښي دسلطان غیاث‌الدین محمد سام د مملکت په برخو کښي « جروم » هم‌شمیری چه‌خپل‌ورور معزالدین ته‌ئي ورکړی ؤ (۳)

خلاصه : د « جروم » اصطلاح له عربو سره یوځای پیداشوه ، اوددي کلمي استعمال د پښتوژبي په‌یوه خوراپخوانی‌شعر کښي پردي دلالت کوی، چه د(۱۰۰ه) په‌حدودو کښي‌هم‌دااصطلاح‌موجوده‌وه‌امیر کروړجهان‌پهلوان سوری پخپله‌ویادنه کښي وایی (٤)

زمادتوری‌ترشپول‌لاندی‌دی‌هرات‌وجروم

غرج وبامیان‌وتخاربولی نوم زما په‌او دوم

له‌دي‌بینه ښکاری ، چه« جروم » پس‌له (۱۰۰ه) هم دسوریانو په قلمرو کښي داخل ؤ . او ورو سته هم‌دي کلمي اونامه شهرت درلود .

دغزنی بیمارستان

غزنی ؤ خپل عمران اوودانی په وخت‌کښي بیمارستانونه هم درلوده ، محمد عوفی په جامع‌الحکایات کښي ددغه‌یوه بیمارستان ذکر داسي کوی :

« آورده اند که در آنوقت که سلطان محمود بیمارستان غزنین را بنافرمود ، چون عمارت تمام شد سلطان بنظاره آمد ، وچون آن عمارتهای عالی را بدید ، خوشش آمد ، ودو رکعت نماز شکر توفیق گذارد . . . . (٥)

له‌دي حکایته مونږته‌دغزنوی عصرمدنی‌تعمیرات ښه‌راښکاریږی ، ځکه چه اول بیمارستان در لوول ، تقریبا داوسنی مدنیت مهمه شاخصه ده ، او په هغو وختو کښي‌هم بیمارستانونه فقط په خورا لویو لویو ښارو کښي وه ، لکه بغداد چه دعربو دخلافت مهم مرکزؤ. نومعلومیږی چه‌دغزنی مدنیت هم تربغداد کم نه ؤ .

دوهم داچه‌بیمارستان ته‌لکه اوس پرعلمی اساس مخصوص عمارات جوړ بدل ، اودغه بیمارستان ته هم داسی مخصوص عمارت جوړ شوی‌ؤ ، چه‌پخپله سلطان ئي لیدلو ته‌تی‌ئ .

داسی معلومیږی‌چه‌په‌دغه‌بیمارستان کښي دهر راز مرضو علاج کیدی ، د لپو ښوب علاج هم په دغه شفاخانه اودرملتون کښي کیدی‌ئ، ځکه چه محمد عوفی بل ځای هم‌ددغه درملتون ذکر کوی،اوهسی وایی :

« در بیمارستان غزنین وقتی دیوانه را بزنجیر کشیده بودند » (٦)

دادغزنی دمدنیت یو کوچنی اثر دی ، که‌نه‌وی دغسی نورډېر مدنی عمرانات اومؤسسات ئي‌درلودل .

---

(۱) بیهقی ص ۷۲ (۲) منتخبات قانون مسعودی ص ٤ (۳) طبقات ناصری قلمی‌ص ۱۹۹
(٤) پته خزانه ص ۱۷ (٥) قلمی جامع‌الحکایات ورق ۱۷۹ (٦) جامع‌الحکایات قلمی ورق ۳۰٦

مشاهیر

د لسمی پیړی علماء

(۲)

ښاغلی محمد امین خان «خوګیانی»

دیوسف زو علاقه په دوه قسمه تقسیمیږی :-

(۱) سمه (۲) غرد غرونو علاقه په نوابی د دیر او د سوات اوامب تقسیمیږی اوترکانی دباجوړ هم دوی سره عزیز ولی لری اود سمی علاقه دوه قسمه ده یوه خالصه سمه، دویم اشنغر ، سمه هغه علاقه ده چه درویزه ورته همواری وائی او ابوالفضل ورته میدان اوهمواری دواړه استعمالوی داعلاقه دغره دیوسف زو ځنی جنوب ته دکابل د سند او دا باسند په مینځ کښې پرته ده دسوات او بنیر د علاقې د وه رو ده را ؤتلی اودسمی په غربی حصه کښې دقطب ځنی سهیل ته بهیږی اودیوسف زودعلاقی په پای کښې سره یوځای کیږی نوبیایه فاصله دخلورکروه لیاری دکابل سیندته لویږی په دی د واړورودونو کښې شرقی ته بلړ اوغربی ته کلیانی وائی خوشحال خان په خپل دیوان کښې دکلیانی دښکارتعریف کوی اودبند ورځو کښې وائی

رحمت په اکوړی ښه چه ئی ځای ونیو سرای
چه ښه فهم ئی و کړی باور و کړه ځای دځای
تور غربی دهو دی دی تر تیراه پوری سم تللی
نیلاب ؤ لتدی دو لدو عجب سر یښې په پای
پری سازه لو یه لا رد هندو ستان خراسان ده
گذرئی دا تك دی چه تر ترس که شاه گدای
همه فیض دی دجهان څه چه یادیږی پرراد رومی
که ملك ئی با رانی دی څه بهار لری های های
که سوات که اشنغر که پیښور که دا ملکو نه
رجوع لری و ده ته فیض ورد رو می دهر ځای
په هر لوری ئی ښکار شته دشاهین دباز دهر څه
واه واه کاله پانه ئی چه ئی ښکار دی د لر بای
ځوا نان ئی چاق ودرست دی په هر کار کښې
خوښ ستر گی سپین اوسره بلند با لاوی په نما ی
په کښې میشته می زو یه خپل خانه نمسی اوس دی
چه څوك په کښې میشته دی په امان اوسه د خدای
آسمان ځنې جدا کړی لاس دچارسی آسمان ته
خوشحال اه سرایه ندی جدا شوی په خپل رای (۱)

نیلاب ابا سیند ته وائی اولندی دکابل سیند ته وشیږم شعر په دو همه مصرعه کښې خوشحال خان دکاله پانې درود ښکار تعریف کړی دی د همدی رود د سر بند په غاړه با یزید روښان مړ شویدی او بلړ هغه رود د ی چه افضل خان د شاهباز خان اودیوسف زود جنگونو په سلسله کښې دیو زرپنځوس هجری په واقعه کښې دبلړ ذکر کړیدی چه یوسف زی تردی ځایه په ختکویسی په تعاقب را غلل او دهمدی رودپه غاړه شاهباز خان زخمی شواو دهغه زخمه مړ شو اوتار ود خپل سرحد کښې ددی دواړور ود ونو په مینځ کښې چه دوآبه پر ته ده چه ددی دوآبی کوزنی او آخری حصې ته جاتکی وائی اودغه ځای دمولانا محمد یونس مقام دی. همد غه ئې مسقط الراس او همدغه ئې مسکن واودهمد غی خوا کښې د کلیانی ځنی قبلی ته

(۱) دخوشحالخان دیوان دقندهارطبع ص ٤٧٤

دنیا ؤ په کلی کښې ئې مزار دی . خزینة الاصفیا
په ٤٨٠ صفحه کښې ددې عصر د یوبل عالم ذکر
کوی چه د دی عصر مشهور عالم و، او نوم ئې
مولانا عبدالوهاب و، ډیرئې ستائې اولیکی چه دده
طریقه عینا دمولانا درویزه طریقه وه، اوده د حال او
دقال خاوندان نامتو خلفاء در لوده اودهغی جملې څخه
مولانا ناخالاک، میانه، شیخوشاه جهان پوری اوامثال
دهغوی دی. اودرویزه ددی عالم په حالات کښې
لیکی چه دی یومدقق فقیه او محقق دانشمند اود خپل
روزګار یولوی پرهیزګار وپه نثر کښې ئې لوړه
مرتبه اوپه نظم کښې ئې هسکه پایه درلوده، په پارسی او
عربی، پښتو اوهندی کښې تالیفات لری. کنز الدقایق
دفقهی ئې منظوم کړیدی رضوانی دده مفصل سوانح
لیکلی دی خزینة الاصفیاء وائی چه په عشق او محبت
عبادت اوریاضت کښې دخپل وخت منفرد و اوخلقوته
به ئې دعام لارښوه .

تفصیلات :

په دی پورته اقتباساتو کښې (۹) ذوات ذکر شول: (۱)
مولانا نورمحمد (۲) شیخ ادم (۳) مولانا عبد الوهاب
(٤) مولانا خالاک (٥) شیخوشاه جهان پوری (٦)
مولانا درویزه (۷) مولانا احمدشاه (۸) دار اشکوه
(۹) دخزینة الاصفیاء خاوند تذکره نویسان ټول یدې
اتفاق لری چه په لسمه اویوو لسمه پیړۍ کښې دې فاضلانو
ژوندون درلوداودارا شکوه دهمدې عصر یو معارف
دوست شاهزاده وو، مجمع البحرین نومی یو کتاب ئې په
تصوف کښې لیکلی دی دهندی تصوف اصطلاحات اود
اسلامی تصوف اصطلاحات ئې په کښې یودبل سره مقایسه کړی
دی اودخپل عصر دعلماء اودصالحانو احوال ئې په بل کتاب
کښې لیکلی دی، دمولانا نورمحمد تذکره ئې هوری کړیده
ددې زمانې دنورو پښتنو دژوندون تفصیلات په خپل
څای پوری تعلق لری اودهغی زمانی دولایت کابل
دپښتنو حال داو چه مولانا عبدالوهاب دوه کاره
په خپل ژوندون وکړه اول داچه علم ئې پښتو نخوا کښې
خپور کړ دوهم داچه دهندوکش په دروکښې ئې داسلام
اشاعت وکړ په دې مهماتو کښې ده دوه قوی بازوګان
درلود (۱) مولانا نورمحمد (۲) مولانا ناخالاک .

دوی صافی اوشنواری دځان سره ملګری کړل
دهندوکش په جنوبی خوا خصوصا دکنړ په غربی درو
کښې داسلام اشاعت وکړ اوصافی اوشنواری ئې دکنړ
لغمان او تګاو په درو کښې څای په څای د همدی
خدمت دپاره واچول. مولانا نورمحمد چه صفات ئې
ددې مضمون په سر کښې د خزینة الاصفیاء څخه
رانقل شویدی دیوسف زو یونا می فاضل و په پښتنو
کښې چه دیوزعیم دپاره کم صفات په کار دی ده
هغه ټول درلوده - او لیکی چه په توره اوسخاء کښې
په خپله علاقه کښې بی مثله وه، نو مولانا عبدالوهاب
ده ته هدایت ورکړچه داباسند یه کوهستان کښې داسلام
اشاعت وکړی دغه لویه علاقه چه دکشمیره ترچترا له
پرته ده ددی دپاره لوی لښکر په کاروو کم وخت کښې
چه یوسف زی خپل استقلال ساته نو د خان کجوتر
سرداری لاندی یو عشر کم یو ملیون نیزه دار
دیوسف زو سپاره دهندوستان دلښکر مخی ته ولاړل
او هغه لښکر ئې راپری نه ښودهٔ دغه زور ور لښکر
مولانا نورمحمد ددی علاقی د فتح د پاره په خپله
زمانه کښې آماده کړ اودمولانا عبدالوهاب څخه ئې
دعا وا خسته اومخ په جهادروان شو، مولانا عبدالوهاب
دده سره مولانا خالاک هم ملګری کړ او هغه ته
ئې یوه توره هم ور و بخښله مولانا عبد الوهاب د
مولانا نورمحمد مرشدهم و اوخسر ئې هم و (دده مزار په
داود زو مهمندو په علاقه کښې اکبر پوره کښې دی
اوهوری بابا صاحب بولی) هر کله چه دا دواړه
هم پیره علماء ددغو علاقو جهادته ولاړه دغه علاقه
ئې په جنګو نو فتح کړه او اسلام ئې هوری خپور
کړو داعروج دشاه جهان خوښ نشو سړی ئې ورپسی
واچول چه دا روحانی زعما مړه کړی دمولانا نورمحمد
اجل نه و راغلی اومولانا خالاک ئې په زهرو وواژه
نو مولانا نورمحمد او دمولانا خالاک بازماندګانو
دشاه جهان دلښکر وسره جنګ وکړ اوهغه ئې دخپلی
علاقې دځنګ څخه لیری کړل دمولانا خالاک مزار
په کابل ګرام دبنیر کښې جوړشو، اوپیر سباک ورورئې

د مو لا نا نور محمد خسرو او مزار گی رستم با زار کښې دی اودپیر سباك کلی د کابل دسیند په غاړه دهمده دی اومولانا نورمحمدا کوهستانی علاقی همداسی پری نه ښودی دلته ئی مد ارس جوړ کړل او علم ئی یکښې خپور کړ اوتر دی حده دی علاقی په علم کښې ترقی وکړه چه تر اوسه په د غه علا قه کښې نا می علماء پیدا کیږی دبخارا ترهند وستانه دعلم د طالبانو مرکز شو .

اوهمدارنگ مولانا نور محمد په خپل اولس کښې هم علم ته دومره ترقی ورکړه چه دهغه د استوگی کلی طورو علماؤ دپښتونخوا بخارا بللو اوخلمیان ئی دپښتونخوا یو نا ن بو لی بخار ا ئی لحکه بلله چه پخوا بخا را دعلم مرکز واو یونان ئی لحکه بولی چه دمولانانورمحمد دعصره تر اوسه خلور سوه کاله وشوه چه دا لحای عرفانی مرکز شوا و هغو ذهنی تر قی وکړه او د همدی اسلامی اوعرفانی مجاهداتو په سبب ئی د ه ته د مولانانورمحمدلقب ورکړاوتذ کره نویسان ئی دمحمدیونس په نامه دومره نه پیژنی لکه چه په لقبی نامه با ند ی ئی پیژنی دی په ۱۰۵۹ ه کښې وفات شو . ددی نوموړی زعیم دسلفو اودخلفو احوال اودده نفسی کمالات اودده دپورتنودری واړو فاضلانو خسرانو دژوندون سوانح اوآثار به هم په خپل وخت و کښل شی د پښتو او دپښتون په تنا سب دااجتماعی خدمات ئی بیگل شوه دهند و کش په لمنو کښې دا سلام نشر و ل اوا باسیند کو هستان کښې سم د اسلام خپرولو سره دعلم ډیوه بلو ل او د علم درناوډیرولو دپاره زیارایستل اودغه خلق دپښتون په اولس راگډول اوپه تدریساتو کښې پښتوژبی ته اعتبا ر ورکول اودخپل اولس معارف معر ا ج ته رسو ل د مولانا نورمحمد کاروه پښتوددغه خلقو مشترکه ژبه شوه عربی پارسی تدریسات په پښتو ژ به لوی لوی کورو کښې ښځوته پښتو کتا بونه ور زده کوی دا خلق په شماره په لکونو کورونه وی په تیرد کمال ز و کښې د مشر ان ز و په اولس کښې د صدی خپلو په پښه کښې داخو نخپلو طا یفه دهمد ی مو لانا نو ر محمد اولاده ده چه د مولانا عبدالوهاب دلور دنسه لحیز یدلی د ی او په رستم اوپه کابل گرام کښې ئی هغه او لاده ده چه د پیر سباك داور دنسه لحیز یدلی دی دمولا نا خالاك میا نه اود مولانا سباك دلحامنو اوددغی لوراولاده ئی دپیرانو په طایفه معروف دی خالاك او سباك عبدالوهاب اونور محمد تول دسړ بنی اولس فضلاوو نو پښتو ژ بی ته دا امید واری شته چه داهل معار فو په تو چه دهغه غرو نو خلق پښه پښتو پوه شی چه تر اوسه نوری ژبی وائی اودژبی خدمت کښې پښتانه فضلاء دمولانا نور محمد اودهغه درفقاواومشرانواو کشرانو پیروی وکړی .

دامضمون وپورته ذکر شوو رجالو د تالیفا تواو دهغوی دشاگردانو دمدحی اشعارو او د مولانا محمد اسمعیل خان اخونخیل دمکتوباتو څخه اقتباس شویدی.

دپوهنې نوموړی

دسائنس له مجلې څخه :

ولیم مك دوگل

ولیم مك ډوگل د جون په ۲۱ سنه ۱۸۷۱ ع په لنکا شائر کښې پیدا شوی و ـ د ده په تندی کښې له کوچنی والی څخه دپوهۍ او ذهانت علامې ځلېدلې ، او دده په لېدلو سره به هر چا ارو مرو دا خیال کا وه چه داهلك به یوه ورځ د ډېر لوی نوم او جګ مقام خاوند شی ده دخپل عمر په پنځم کال داقلیدس نه پر ته د فرانسوی اولا تینی ځینی سبقونه هم زده کړی وو ، دده پلار داخیال درلود چه په ده کیمیا زده کړی او یا په ده د قانون علم ووائی ؛ لیکن دده خیال له دې شیانو څخه ډېر لوړ و ، دده گرانې مور به چه یوه ډېره ښه او پوهه ښځه وه ده سره ډېره مرسته کوله ، او دده دی مور او پلار دا فیصله وکړه چه دی باید سائنس زده کړی او هم د دې مفکورې په اثر د وی د غه خپل لایق زوی په ۱۸۸۷ کښې دمانچستر په یونیورستی کښې داخل کړ .

ده دمذهبی علوموسره هیڅ قسم علاقه نه درلوده او ده به تل داخبره کوله چه د مسیحی کلیسا تعلیم یاخود ډېری توجهه وړدی او یادایو داسی تعلیم دی چه دحواسو په اختلال مبنی دی ، لیکن سره ددې خبرو ده خپل عقاید چیرته نه وښکاره کړې او نه ئی پدی خصوص کښې خپل نظریات ښکاره کړی و.

په ۱۸۸۹ دسمبر کښې دی کیمبرج ته ولیږل شو او په هغه ځای کښې ده د کالج په کلیسا کښې په جبری ډول سره حاضر ېدل منظور کړل .

په دغه کال کښې دده مورد ډېر تکلیف او زحمت په حال کښې وفات شوه او په دې حادثه دده جذبات لا گډو ډشول ، او ددې حالت په اثر ئی کلیسا ته تلل هم پر ېښودل ، هر کله چه له ده څخه د کالج مشر د نه را تللو دسبب پوښتنه وکړه نوده ورته په جواب کښې وویل چه زما ضمیر ماته ددې خبر واجازه نه راکوی په ۱۸۹٤ ده ته دخپلې کامیابی په اثر ددغه پوهنتون له خوا په سینټ ټامس نومی شفاخانه کښې اعزازی معاش مقرر کړ شو او په دې ځای کښې ده برسېره په خپلو نطقونو د « سر چارلس شرنگټن » ترکتنی لاندی د فعلیاتو په معمل کښې پلټنی او تحقیقات شروع کړل او ددې تحقیقاتو په لړ کښې دده توجه د « ولیم جیمس » د نفسیاتو د اصولو خواته ولاړه ـ او په ځای ددې چه دی یو پیاوړی طبیب او ډاکتر شی په دی سلسله کښې دی د نفسیاتو پیاوړی پوه شو په ۱۸۹۹ دی د هغه مجلس له خوا و غوښتل شو چه د انسانیاتو د تحقیق دپاره ددغه پوهنتون له خوا « تورس » ته لېږل کېده ـ هر کله چه د دې تحقیقاتو څخه فارغ اووز گارشو نوده د چین او جاوی او سند سفرونه وکړل او د هندوستان له جوگیانو څخه ئې د تنویم یعنی بېده کولو علم زده کړ .

دی دخپل استاذ په مشوره « گوټنگن » جرمن ته دی د پاره ولاړ چه په هغه ځای کښې څه موده د ملر G,E.Muller سره تېره کړی هر کله چه دی جرمنی ته ورسېد نو دی دخپلو اصولو په خلاف په یوه ښځه مین شو ، مگر مك ډوگل پخپله لیکی چه ما ددې خپلې ملگری څخه په خپل فن کښې کافی معلومات حاصل کړل ـ په سنه ۱۹۰۰ کښې دلندن په پوهنتون کښې نطاق مقرر شو او بېرته خپل وطن ته راغی او په دی ځای کښې ده دخپلو تجربو عملی کولو د پاره یوه مختصره مؤسسه ودانه کړه دانگلیسانو دنفسیاتی مجلس په تاسیس کښې هم مك ډوگل پوره برخه اخستلی وه په سنه ۱۹۰٤ دی په اکسفورډ کښې دذهنی فلسفې نطاق

مقرر شو او په دغه ځای کښې ده ته د نفسیاتی تجربو په لړ کښې ډېر مشکلات پېښ شول، او هم په دغه ځای کښې ده په سنه ۱۹۰۵ کښې «فعلیاتی نفسیات» نومی یو کتاب ولیکلی او په سنه ۱۹۰۷ ده یو بل ډېر ښه مفید معاشرتی نفسیات نومی کتاب چاپ کړ، او داد ومره ښه کتاب دی چه تر اوسه دا کتاب (۲۳) ځله چاپ شویدی، مک ډوګل لیکی چه زه په دې خبره ډېر افتخار کوم چه په سنه ۱۹۰۸ کښې نوموړی فلسفی او د نفسیاتو د پوهنی د میدان پیاوړی ولیم جیمس ماله راغی د دی پیاوړی په را تلو زه افتخار کوم ده په دی وخت کښې په خپلو معلوماتو کښې یوه نوی لیار پیدا کړی او د «نتائجیت» نوی موضوع ئې موندلی و او ده زه هم په دغه اصولو یوه کړم. په سنه ۱۹۱۱ کښې مک ډوګل د نفس او جسم په شا وخوا کښې یو د قدر وړ کتاب ولیکلی او په دې وخت کښې د «ایف - آر - اس F.R.S او کارلس کرستی کالج مشر مقرر شو په دغه وخت کښې ده د ډاکتر هوز سره د «بورنیو د پخوانو قبائلو» نومی کتاب په دوو جلدو کښې ولیکلی.

په سنه ۱۹۱۲ کښې ده د «هوم پوهنتون» د پاره د سیرت د مطالعی په نوم یو کوچنی کتاب و لیکلی که څه هم دا کتاب ډېر ګران او د اعلی طبقی د پوهانو د پاره لیکل شوی ولیکن سره د دې هم دی کتاب په خلکو کښې تر دې اندازی تعمیم اور واج پیدا کړ چه په لکو نو نسخې ئې چاپ او خپرې شوې - د پخوانی لوی تیر شوی جنګ څخه وړاندی ده په لندن کښې د ډاکتر ینګ سره ملاقات وکړ او په سنه ۱۹۱۵ کښې راوغوښتل شو او په شاهی عسکری طبی ډله کښې د مشر په ډول مقرر شو، او څه موده ور وسته دی د عصبی شفا خانې ناظم مقرر کړ شو او په سنه ۱۹۱۹ کښې پر ته د خپل تعلیمی مصروفیت څخه په آکسفورد کښې د عصبی امراضو په شاوخوا کښې مشقونه او پلټنې شروع کړې.

په سنه ۱۹۲۰ کښې دی زورج ته د ډاکتر ینګ څخه د تجزیة النفس د تحقیقاتو د تکمیل د پاره ولاړ، او هم په دې کال کښې ده د «ډلی ذهن» نومې مشهور کتاب خپور کړ.

په سنه ۱۹۲۰ کښې دی په هارورډ پوهنتون کښې د ولیم جیمس په ځای مقرر شو او امریکی ته ولاړ او هر کله چه په امریکه کښې د ډاکتر «والتسن» (کرداری نفسیاتو) په دغه ځای کښې پوره شهرت پیدا کړی و نو له دی کبله دی په دغه ځای کښې د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شو او خپل شهرت ئې په خطر کښې ولید او د دغه وړاندې ذکر شوی ډاکتر نظریاتو په ټولو پوهنتونو کښې تعمیم او رواج موندلی و، لیکن سره د دی هم مک ډوګل په لږه موده کښې ښه شهرت حاصل کړ که څه هم ده په دغه ځای کښې د عملیاتو او تجربو په موسسه کښې کوم رسمی شرکت نه درلود لیکن سره د دې هم ده په سپینو مږکانو تجربی وکړی، او د هارورډ ته تر تللو وړاندی د ما نچستر پوهنتون ده ته د (ډاکتر آف سائنس) اعزازی خطاب ور کړ.

د مک ډوګل اساس نفسیات نومی کتاب په ۱۹۲۳ کښې چاپ شو په ۱۹۲۷ دی نوی تاسیس شوی د ډیوک پوهنتون ته ولاړ او په دغه کال کښې ده یو د (ژوندانه سیرت) نومی کتاب شائع کړ او له دې کتاب څخه د ده مقصد په عوامو کښې د نفسیاتو ترویج و په ۱۹۲۹ کښې ده د (ننني مدنیت) په نوم کتاب شائع کړ او په ۱۹۳٤ کښې ده مذهب او علم حیات نومی کتاب چاپ کړ او هم په دی کال ده یو بل (سرحدی نفسیات او د انسان قوتونه) نومی کتاب خپور کړ په دې کتاب کښې دې مؤلف طبیعی او غیر طبیعی نفسیات یو ځای کړی دی.

ولیم مک ډوګل د فرائیډ د تجزیة النفس پوره نقاد دی او ده د دی خبری د اثبات ډېر کوښښ کړی دی چه د فرائیډ د نفسیاتو په اساسی اصولو کښې قصدی نفسیات هم ځکه شامل دی چه د دی دواړو اساسی اصول د یو بل سره مشترک دی او دی د فرائیډ د نظریاتو په خصوص کښې دا نظریه لری چه د فرائیډ نفسیات انسان د حیوانیت خواته بیائی: مک ډوګل د (ینګ) اصول ستائی او په خپلو تالیفاتو کښې د هغه په اصولو رڼا غورځوی دا د پوهنی د آسمان لمر د نومبر په ۲۸

۱۹۳۸ کښې له دنیا څخه د همیشه دپاره ولاړ لیکن دده نوم تل په علمي دنیا کښې ژوندی پاته شو او راتلونکی خلك به پری افتخار کوی؛ ده په نفسیاتو کښې نوی روح پیدا کړ او دخپل علم او پوهنی او زیار په مرسته ئې دبیوځلی دبد کړنګ څخه ځان راوویست اودعلم اوپوهنی په اسمان کښې د لمر په شان وځلید اوپه لکونو خلك دده د علم او پوهنی د رڼا څخه استفادې کوی .

دې پیاوړی اتلس کتابونه تالیف کړی دی او برسېره پردی ده خپل علمي نظریات په ډېر و علمي مجلو کښې هم خپاره کړی دی .

دده دمعلوماتو یوه سلسله په (بر ټش جر نل آف سائیکالوجی) کښې پای ته رسېدلې ده او په دی سلسله کښې ده د(لی مارك) پر نظریه سخت تنقید کړی دی .

دمکډو ګل تالیفونه

۱ ـ د نفسیاتی فیز یالوجی لمړی کتاب .
۲ ـ د اجتماعی فیز یالوجی څېړنه .
۳ ـ فکر او بدن.
٤ ـ دفیز یالوجی یو اساس.
٥ ـ ملی ودانی اوملی ورانی.
٦ ـ اخلاق او د نړی ځینی عصری توګی .
۷ ـ دجنګ وړنه بایلنه.
۸ ـ د بورمن قبیلی،
۹ ـ دغیر عادی نفسیاتو یو اساس.
۱۰ـ نفسیات ،یاد اخلاقو یولوست .
۱۱ـ دنفسیاتو ویشونه (بریدونه) .
۱۲ـ طبایع اود ژوندانه لار ښوونه .
۱۳ـ عصری اخلاق .
۱٤ـ د نړی هیولا .
۱٥ـ دژوندانه دیانت اوپوهنه .
۱٦ـ دوګړو متري (انرژی) .
۱۷ـ دژوندانه اړخ .
۱۸ـ اجتماعی نفسیات ،او فیز یالوجی تحلیلات .

(دښاغلی سیفی اقتباس اولنډونه)



د وزارت خانو د واو رې منظره

کیسې اونکلونه

لیکونکی : لویز آلکون
معرب : درینی خشبه
ترجمه کونکی: ښاغلی واسعی

دمیلاد په اختر

کښې

دمیلاد داختر دلمړی سهار سپیدې لاندی چاودلی چه (چو) نامې نجلۍ دخوبه راکښېنسته ، دآسمان پر شرقی افق لاسپیدو وایه نده کړی، اونه دسپیدو رونړاداطاق ترهنداری د اطاق تیاره لږ څه سپکه کړېده . . . مگر (چو) داختر دسوغاتو نو په شوق د خوبه څخه راکښېنسته اوخپل نازك کوچنی لاس ئی هغی کڅوړی ته چه خپل دخوب دچپر کټ په پنجره ئی ددې دپاره ځړولی ده چه غیبی سړی (۱) ئی دلوبو او ساعت تیری دخور اښکلو اوښایسته شیانو څخه ورډك کړی وغځاوه . . . .

مگر افسوس چه کڅوړی نه ئی لاس ور ووړ خالی په خیال ورغله اوهیڅ نه وه پکښې اچول شوی داسی خفه شوه چه اندازه ئی نه درلوده او د ډېره غمه څخه ئی بیرته سر پربالښت کښېښووه . . . دغمه څخه ئی ساه ورووروکښله اودخفقان ساړه ساړه آهو نه ئی سوکه سوکه ترخولی ایستل . . . اویو لاس ئی ترهغه بالښته لاندی کړی ؤ چه سر بیره ئی سر پر پروت ؤ اوتو دی تو دی اوښکی ئی لارې لارې پر راتوئېدې . . . . . مگر پدغه حالت کښې ئې تربالښت لاندی گوتې دیوه داسې شی څخه ونښتې چه کتاب غوندی شی معلومېده نو ئې گوتې ور و اچولې او راکش ئې کړ چه گوری رښتیا کتاب دی، او خورا کلکه اوښایسته دمقوی وقایه ئې ده ، مگر نه ورته پوهیږی چه چا دلته ایښی ؤ ؟ . . . . د خوب دځایه څخه را پورته شوه، دبرق غوټه ئې ووهله ، ډېوه روښانه شوه او کتاب ئې وغوړاوه، په ښایسته تکه شنه وقایه اوښو ښو ښکلو عکسونو ، اوښه اعلی چاپ ئې خوراخوشحالی وکړه اوډېره په وغوړېده . . . . ور وسته ئې یو څه ځنی ولوست ، او داور معلومه شوه چه دا کتاب دیوه سړی قصه ده چه په دنیا کښې سیاحت کوی او غواړی چه دټولې نړۍ

---

(۱) اروپائیان دمیلاد داختر (کرسمس) دورځی په شاؤ خوا کښې مختلف عقایداو نظریات اوعنعنات لری چه یو لدغو عنعناتو څخه دادی چه د کرسمس په شپه یو غیبی سړی دوړو هلکانو دپاره سوغاتونه او تحفی اوهدیې گانی راوړی په همدغه نظر یه غربی وگړی ښځی ؤ کچنیان پدغه انتظار دمیلاد د اختر په شپه دغو سوغاتو نه منتظر اوهر چا خپله کڅوړه ورته ځړولی وی .

عجایب او غرائب ووینی ، چه داهم ورمعلو مه شوه او
د کتاب پر موضوع ئې هم علم راغی، نوبیا ډېره خوشاله
شوه او دځانه سره ئې و خند له ، ژر ژر دخپلو خویندو
خوا ته ور روانه شوه چه د خو بـه ئې ویښی کړی .

« ما گی ! کښېنه خو ری کښېنه .... ماته غیبی
سړی یو کتاب را وړی دی چه خو را عجیب عکسونه
پکښې دی ... توپی! ویښه شه دادی دې کتاب ته
گوره چه ماته غیبی سړی را وړی دی ته خو کښېنه
وې گوره چه څه عجب صور تونه اوعکسونه پکښې دی
.... ایمی ! هله ژر کښېنه آ ایمی کښېنه خو شالی
کوه . . . !» داده ماگی دخوبه را پاڅېده ، ستر گی
موږی اودخپلی خوری څخه ئې پوښتنه وکړه : « کتاب دی
چرته ومونده ؟ » چه دې ورته ویل تر بالښت لاندی
ما گی لاس تر بالښت لاندی کړاو دغسی کتاب لکه
د خور په لاس چه ئې ورغلی ؤ گو توته ورغی مگر ددی
د کتاب وقایه زرغونه ده ، او هغسی ښایسته اوښکلی
عکسونه پکښې لیکلی دی لکه د خور په کتاب کښې
چه ئې وه . . . . ما گی ډېره خوشحاله شوه ؛ او
د هوس څخه ئې پښی مځکی ته نه ورځی . . . . پوتی
چه را پاڅېده هغی هم ځانته جلا کتاب وموند ، چه
دهغه بیاتکه سره وقایه ده ـ دغه رنگه ایمی هم کتاب
و موند ، مگر دایمی کڅوړه د شیا نو څخه خو را
ډکه ده او ډېر با دام او پستی او نوری خوږی
هرډول میوی پکښې دی .

دا چه ئې ولېده نورو خویندو ته ئې خو را یو
دخوشخالی اوهوس ږغ ورو کړی ، او داسی چم ئې
کاوه لکه پر نورو خویندو چه ئې سرلوړی اوافتخار
کاوه . . . . . خو یندو ئې هم ددې افتخا را و
سرلوړی چه پر دوی ئې کوله حق گڼله مگر غیبی سړی ئی
گر ماوه چه ولی ئې ددوی کڅوړی هم نه ورډ کولی
او باید خالی ئې نه وای پرې ایښی . . . . پدې
موضوع کښې ددوی خبری خورا ډېری او او ږدې
شوې اوږ وږئې سره ډېرشو ، مگر ددې ږو ږتر
میانځ به خندا اومسکی هم ؤ اودمیلا دی اختر زیری
به هم تر دی میانځ سره کېده ـ دایوه داسی خوشحالی وه

چه داختر دورځی تر لمر ختو دمخه پر دوې را الوتې وه
لکه هغه خو شحا لی چه د هلك تر زېږېد و د مخه په
کاله کښې په دغه ورځ پېښه وی . . .

(چو) دخپلی مور خونی ته ولا ړه ـ پلا ر ئی په یوه
سفر تللی ؤ ، داورغله چه مور ویا څو ی مگر مو رئی
په خونه کښې و نه مونده ، لکه چه دغه ساعت ؤ چه کلیسا ته
ددې دپاره تللی وه چه دغیبی سړی څخه ددی خبری
تشکر و کړی چه ددی لونړو ته ئی ښه ښه ښکلی عکس درلوونکی
کتابو نه ور سو غات کړ یدی .. . اوبل د « ایمې »
دمیوی د کڅوړی تشکر ورته و کړی فقط ددغه دپا ره
تللی وه اوبیرته ژر خپلی خونې ته راغله ، دی لاخپلی
کڅوړی ته چه دخپل چپرکټ په پنجره ئې ځړولی وه لاس
نه ؤوروړی چه خور ائی درنه په خیال ور غله! خورا
خوشحاله شو ه اود خوشحالی څخه ئی زړه بیځا یه شو
کڅوړه ئی خالی کړه که گو ر ی خو را خوند و ره
اولذیذه میوه پکښې وه چه په رښتیا سره ډېر عجیبه ا و
فوق العاده هدیه گڼل کېده ، یو ساعت وړاندی چه
دی خپله کڅوړه و کتله لاهیڅ نه وه پکښې ، او ددی
شیانو څخه یو شی هم نه پکښې معلومیده خدایتعالی دی ددی
غیبی سړی پر زیرمه شی ، څه یو دخیر سړی دی .....!
نجو نی هم هکې حیر ا نی شو ی هره یو ه خپلی
خپلی کڅو ړ ی ته د کتلو دپا ر ه ور غلی چه گو ر ی
د هر ی نجلۍ کڅوړه دخور ا نفیسی میو ی او خوند
ورو شیانو څخه ډکی دی ، نود خوشحالۍ څخه ئی پښی
ځمکی ته نه ورځی او که ئی دلاسه کېد لای په هواشوی به
واې ، وروسته ددی حالت ترلید لو سړ دسره بېر ته
ږوږ بیاډېر اوشور ماشوراوخندا او کټکی سره خپور
شو ، پدغه و خت کښې لمر هم څرك وواهه ، او(چو)
دخویندو تر میا نځ د ا سی تقر یر کو ی لکه دا چه
امپراطوروی : « خویندو! واوره ای توپې غوږ ونیسه اې
ما گی! ماته گوره ها ایمی ... ، تر هغو به په دغو میوچه
مونږ ته غیبی سړی راسو غات کړیدی غرض نه کو و څو
مومور راځی هروقت چه دارا غله نو به ئی د کڅو ړو
څخه راواچو او دی ته به ئی وروښیو نو به ئی په گډه سره
وخورو اوس به مونږ څودا راځی د خپل کتاب لمړی
صفحه لولو وچه تر هغو څو دارا ر سیږی مو نږ ځان

په پوه کورو چه‌داراشی او مونږ د دغی صفحی مقصد ورته بیان کړودابه دومره وهوسیږی چه حداو اندازه به‌نه‌لری .....گوندی پدې‌به زمونږ څخه‌هغه غیبی‌سړی چه مونږ ته‌ئی کتا بونه او میوی سو غات را کړیدی خوشحاله‌شی اوپر مونږ به‌دوړو کوخیال نه کوی اولکه اوس چه‌ئی دوړوهلکانو غو ندی دلوبوشیان سوغات راکړیدی بله پلا به دلوبو شیان نه‌راته سوغاتوی... په هر حا ل دغیبی سړی تشکر با ید تر هر څه د مخه وکړه شی.... وړو کچنیانو خپل لاسونه دخونی دچت خواته پورته کړه‌او زنګنونه ئی غبر ګ کړه د غیبی سړی‌په‌تعظیم‌اواحترام‌ئی‌بیل وکړ، بیائی‌بیرته دلمړی‌صفحی‌په‌لوست‌شروع‌وکړه... ددوی منظره خورایوه عجیبه منظره ، او ډېره یوه زړه وړو نکې او روح پالونکې ننداره وه، که څه هم وړوکی «ایمی»‌پدې هیڅ چرت نه خرا با و ه چه غیبی مقد س سړی ولی دنورو خویند وغو ندې دی ته هم یوازی دغه کتاب ورکړ ،او یو دلوبو شی چه سهار چه‌داختر روڅ وی اودا نورو سیالانوهمزولو ته‌سر لوړی وی او افتخار په‌وکړی ندی ورتحفه کړی،سهار دې واړه اوهلکان کچنیان توله د باندی راوتلی دې کوڅی او با زار ونه په ډك دی، یو دبله خیال اوسر لوړی‌ؤ افتخار سره کوی . . . . .

ایمی ددغه جهته څخه چه غیبی مقدس سړی‌دې‌ته یو دلوبوشی‌ندی ورتحفه کړ ی دکتاب د لمړی‌ صفحی څخه‌په یوه کر ښه هم‌نه پوهیږی ؛بلکه تو له اند ښته اوفکر ئې د کتاب یوه رنګا رنګ صورت او عکس‌ته چه یکښې دی متوجه کړی، او یوا زی په هغه رسم کښې ډوبه ده، اوپدی فکر کښې‌ده‌چه غیبی مقدس‌سړی ولی ددی اختر په ورځ دیوه لوبو په شی یا به یوی ناوکی پرما پیرزو ینه و نکړه ؟

کچنیان لادخپل لوست څخه نه‌وه اوزګار شوی چه‌مور پرورنتوته اوترشا خدمتګاره‌په‌پسی‌وه، ددوی دواړو څخه خورا ډېر داختر حلوا اومیوی او نور دلوبو شیان وه‌چه دبازار څخه ئې کورته راوړه ، او په‌خورا ورین تندی اود مور والی په‌یوه فوق العاده شفقت اود مینی‌په‌ډکو سترګو ئی ددوې ملاقات وکړ هریوه‌ئی پرتندی خورا کلکه مچ کړه ، غیر د یوې ایمی چه ترټولو وړه وه پر بار خوئی ښکل کړه، ایمی چه خپل دلر ګیو څخه جوړ شوی د لو بو آ س راواخیست اوهغه وششنل‌اودفنر دتاو ولو پذریعه‌پرلار روان شوسمدستی ئی‌دمقدس‌غیبی‌سړې څخه‌ګله او مانه دزړه څخه‌وو ته‌او خپل دلوبو په آس چه خورا په خیال خیال پرلار روان‌ؤ هوسیده ، او ویل به ئی : «ماخو د خپله کتابه څخه یو حرف ندې زده کړی اونه‌می لمړی صفحه کتلی‌ده اې «چو» ! مګر «چو» پدېر ظرافت اویوه لطیفه کتنه‌ورته کتلی او وروسته ئی خپلی مورته وویل ؛ «آمور !مونږ د خپل کتاب لمړی صفحه توله و لوسته ،او ورو سته تر دی به هم هره ورځ یوه‌یوه‌یاد وې دوې صفحی لولو څو دخپلو کتابونو څخه اوزګا ریږو ،رښتیا خبره داده چه بابا نویل‌خورا یو ښاغلی اومهربان‌اوغیبی سړی‌دی .....» نو «توپی» خبره ورغبرګه کړه او ورته وې ویل : «داسی ښکاریږی چه‌دبابا نویل رسم خورا ښه زده دی‌او درسمونو په رنګ ورکولو کښې هم آ مور! خورا ښه‌دی .. ته ګوره دا زما په کتاب کښې ئی عجیب رسمونه کړیدی »

..... تو لو خو یندو کټ کټ وخندل . مګر احتیاط کاری مورونه خندلی، نو(چو) یو ښتنه لحنی وکړه : «مور!ولې‌نه‌خاندې‌په‌څه‌کښې‌فکر وهې؟‌په‌پلار کښې مې فکر وهې؟ پلار‌به‌مې‌ژرراشې‌اودمیلا داختر‌به‌هر ومرو کورته راور سوی اوزمونږ سره به‌ئې تیرکړی » نو مورښکل کړه اوداسې دمور والی یوه توده مچه‌ئې لحنی واخیسته چه دمور والی یوه مخصو صه مینه‌او شفقت تراتوئیده ، اوور ته وی ویل :

واوری،اې زما وړو کو! زه‌کلیساته ولاړم اود بابانویل‌تشکرمې‌وکړ اواحترام مې‌پر لحاې کړ، دهغې خواچه راتلم زمونږ‌دهمسایی‌په کاله کښې‌مې‌یوخورا زهیرز ګیروی تر غوږشو، ورمی ورو تکاوه لوئې لور ئی ورراوپرانیته، چه د زګیروی یو ښتنه مې

ځنی وکړه ویل زما مور لنګه شوې ده اوزوې ئې زو کړېدې اوس حیرانه ده چه په څه شی کښی ئې وپیچې چه دسړو څخه ئی وساتی، اوراته وی ویل چه د سوځلو دپاره بوټی اولرګی هم نه لری، اونه دغونه ډوډۍ په کور کښې لری چه ددی اختر په ښه ورځ ئې وخوری، نوزه مور (لنګی) ته ورغلم، اوسلام مې ورواچاوه، نوې زیږېدلی کچنی اونور اولادونه می ولیده چه په یوه زړه شړۍ کښې ئې ځانونه سره راتاوکړې اودسړو دشدت څخه سره لړ زېده، اودځان دتودولو دپاه یو په بله چخ سره ناست واوزه خورا په غم اخته شوم چه ددوی یوه کچنی ورور ډوډۍ وغوښته، اومورئی ماته وکتلا اوسترګی ئې داوښکو ډکی شوی، او هیڅ ئې ونه ویله . . . . . توبه خدا یه سخته د زړه سوی منظره ده . . . . . دغسی ده «پوتی» که یه ؟ . . . . .

« چو » خپلو خویندوته ګوری، او په سترګو کښې ئې اوښکی رغړی، اووائې : «هو! رښتیاداده چه ډېره سخته منظره ده ای موری ! «ایمی» وائی: « بابا نویل چیری دی ؟ دوی ته ئې هم ولی لکه مونږ ته حلوا اومیوه نده «ورلېږلی» مورئې ورته وائی «ماته داسی ښکاری چه دری ئې هېرشوی دی، ای ایمی ! . . . . چو . . . . آیا له مونږ څخه به خدایتعالی راضی نشی اوپه جنت کښې به ځای را نکړی که مونږ خپله حلوا اوخپله ډوډۍ راسره واخلو او ددغو خوارانو سره ئې وخورو ! »

«چو» یوه ګړۍ څه نه ویل، اوخپلو خویندو ته ئې کتله، اوپه آخر کښې ئې وویل : « آ، مور ! زمادی قسم وی چه : داښه فکردی، راځی . . . . زه به خپله کڅوړه سره دهرڅه چه پکښې دی را سره واخلم » « توپی» ویل : « زه به هم خپله کڅوړه راسره واخلم . . . . مګر په حلواخووږی کسان نه مړیږی . . . . حنه ! . . . داډوډۍ درسره راواخله » « ماجی » وائی : « یه . . . ډوډۍ به زه را سره را واخلم . . . حنه . . . دی بوټی ورسره راواخلی » مګر «ایمی» یوه پلا مورته وکتله بیا ئی کتاب ته وکتله، او وروسته ئې وویل :

« زه به کتاب راسره واخلم چه د دوی ساعت په رسمونو او عکسونو ورتیر کړم . . . زه تر خپله حلوا په هیڅ صورت نشم تېرېدای ! » نو ئې مور وخندله، او « حنه » هم په خندا شوه، هری یوې خپله حلوا ور سره واخسته .... د « چو » د دې اختر په ورځ خپلی لوبی ور په زړه شوې او دا ئې هم په خیال کښې وروګرزېده چه ددې اختر په نیکمرغه ورځ به هغه خواران دځان زړونه په څه شی ښه کړی نوژر ولاړه اودخپلی صندوقچی څخه ئې خپل پخوانی ټول دلوبوشیان را چپه کړه او په دغو شیانو کښې دپرو سږ خولیانی هم پرتې وې، هری نجلی یوه یوه خولۍ پرسر کړه، او ټولې په ګډه د همسایه دکور پر سیمه را روانی شوې : . . . . په بازار کښې لاخلق نه وه ډېر شوې، دوی په یوه پلا سره وخندله، بله پلا به د یخ اوسړو دشد ته څخه سره ولړ زېدې . . . .

ورئې وټکاوه اوو پرا نیتل شو . . . . دوی پد ننه کور کښې ور توی شوې او د میلاد د اختر سندری ئې په لوړ اواز شروع کړې او د همسایه کورئې دخوشحالۍ اوښادۍ اوښه مرغۍ څخه ډک کړ چپرکټ ته ورروانی شوې اودکور واړه کچنیان ئې ویښ کړه . . . . . کچنیان خواران را وپا څېده اودغم اوخوارۍ څخه ئې تر سترګو او ښکی لاری لاری روانی دی . . . . اودغه معصومی جنکیانی چه لکه غیبی نورانی اجسام چه د آسمان د خوا دد وی پرکور را نازل شوی وی د وی ته حلوا اونورخواړه اوغذاګانی وروړاندی کړی اوسعادت اوښه مرغی ورپه برخه کوی . . . . . مګر (حنه) او ربل کړیدی. . . . . او (مور) چه ډېره خوا خوږی وه د بی وزلی مور څخه ئې کچنی واخیست او په یوه کالی کښې ئې چه د دغه د پاره ئې ورسره راوړی ؤ ونغښت، نو کښېنسته او د بی وزلی مور (لنګی) پر زړه ئې د تسلی او اطمینان په خبرو پونډکۍ ورایښوولې.....هلکانو اوجونکیانو خوارانو ډوډۍ ته لاس ورته کړ، او په څلورو لاسوئې خوړله

تاچه ویل داخو ورځی ئې څکه نده کړې . . . . .
نجنو به ورته کتل او خورا به په تعجب کښې وې . . .
و لی د وی تر اوسه هیڅ څوك داسی نه و لیدلی چه
پدې چټکی او تلوار دی ډوډۍ هپیلی . . . . . مگر
«چو» به ورته کتله او زړه به ئې په خوړل کېده
اوځان به ئې په لوبو ځنی اخته کاوه ، اوڅو دلاسه ئې
کېده کو ښښ ئی پدی کښې کاوه چه کچنیان
و خندوی . . . . . بیانو را و لاړه شوه د خپلو
خو یند و د سر و څخه ئې خو لیانی لیری
کړی او ددوی پر سرو ئې ور کښېښو وې .... دلته
نو هغو په خندا شروع وکړه اویو تور کټکی او خندا
ئی اچولې وه ..... خپله لو ږه ، بې وزلتیا ، او
خواری ئې هېره شوه، چه دموړتیا په واسطه ئې په
رگو کښې تودې وینی سره وښوریدې، نو چه «چو»
دخپلو یخوا نیو لوبو شیان یدوی وویشل نو ددوی
تر میانځ هم یو پربل د افتخار اوسر لوړی احساس
پیدا شو، اوددوی ترمیانځ یوه خوراشدیده دخوشحالۍ
څپه مو نده شوه ، یو ې کچنۍ وړ و کی نجلکۍ
پدوی کښې وویل: «بابانو یل ستاڅخه تشکر... زمونږ
په خیال چه ستا مونږ هیر شوی یو ، مگر تاخومونږ
ته دلوبو اسبابونه، ډوډۍ، حلوا ،اور ،او ، خورا
دخوند اور چه زمونږ خوا خوږ ی مور «حنه»
ئې بلوی اولمبی په کوی راولیږه .... نوشکر دی وی
خدایتعالی ته او ستا څخه تشکر .... اوز مونږ د دغو
همسایگانو خویندو، میندو، ورونو څخه تشکر.....»
مور دخپلی لورپر ویناؤ غوږ نیولیؤ، او سترگی ئې
داو ښکو څخه ډکی ډکی کېدې ..... نو به دې بلی
(مور) پخپلو خوږو ویناؤ ډاډ ورکاوه ، او او ښکی
ئې په ښو خبرو ورپا کولی .... او کور نۍ بیر ته
دخپل کاله په پوړو کښې را وخته او خپل کور ته
را غله .

په کور کښې دپخوا غو ندی دډو ډۍ د خورك
دپاره سره را چاپېر شوه ، پر دستر خوان با ندی
عادی ډوډۍ، شیدی، شکره ورته کښېښو وه شوه ،
او چای ئی ورسره وچښلې ، اوپر خپل سعا دت او
کورنۍ ښه مرغی ئې چه پدغه گړۍ ئې دوی احساس
په ښه توگه وکړ ډېر شکر وکړ، داسعادت نه هغه سعادتؤ
چه د ډوډۍ دخوا یاد حلوا، یادشکری یاد شیدو ، یاد
چایو دخواحاصل شوی وی بلکه داد ډوډۍ، دښیگڼی
،دهمسایه سره دمواسات ، او دبې وزلو سره دلاس
نیولو اونیکی کولو په ذریعه حا صل شو یدی دا هغه
سعادت دی چه دتقوی او د څښتن تعالی درضا دخوا
دوی ته حا صلؤ .....

سر بیره پر هغه مور کښېنسته او د خپلو او نو
څخه ئی خوشحالی اورضامندی وکړه، اوهغه خیراتونه
اوښیگڼی ئې ورته بیان کړې چه پدغسی ښو ورځو کښې
ئې دخدای تعالی دوستان، شهدا ، او صالحین کوی،
اود څښتن تعالی د رضا د میند لو د پا ره هر ډول
ایثار ونه، قربانیگانی کوی، نجنکیانو په خو را شوق او
ډ یره مینه ددې ویناؤ ته غوږ نیولی ، او نزدی ؤ چه
تر سترگو ئې اوښکی پرپر راتوی شوی وای .

(ایمی) دوی ته و کتله ..... دی خپل دلو بو
اسان را اخیستی وه، ټوله ئې دخوارانواو غر یبانو
په هلکانو وویشله ..... اودې خبری ته ئی هیڅ اهمیت
نه ور کاوه چه نوری خویندی به ئی دلوبو په شیانو
ساعت تېروی ،او دا به دغسی بیکا ره ور ته نا سته
وی .... دمور ئې زړه پرو سو اومتاثره شوه ، او
دائې ورسره بوتله اود لوبو شیان ئی وروپیرودل نوئی
ددی تر پخوانی آس چه خوارانو نجنکیانو ته ئې خیرات ورکړ
لوی آس وررانیوه..«ایمی» بیر ته دبازار څخه کورته
راغله اوزړه ئی دخوشحالۍ څخه سره چا وده او پر
خپلو خویندو ئی افتخا ر او سر لو ړ ی کو له مگر
خویندی ئی سره لدی هم خوشحاله او پخپل حال کښې
راضی او خوښې وی .

دوی لا په خوشحالی اوهوسا کښې وې چه یو چا
دروازه وټکوله «حنه» ور غله چه وگور ی څو ك ئی
ټکوی ، ژر بیر ته را غله اوخبر ئی راوړ چه شتمن
همسایه ،دوی ته نزدی دخورا عالی قصر څښتن گاونډی
دی ددې دبې بې لیدلو ته راغلی دی بی بی د ملا قات

په اطاق کښې پډیره تواضع ورسره وکتله ... او یوه ډکه ټوکرۍ ورسره وینی اودائی ټینګ زړه ته ولویده چه دائی هدیه اوسوغات ورته راوړیده...

خدای دی راوله هرکله راسی .....داختردی مبارك شه اختر دی نیکمرغه شه ای بی بی آیا دی شتمن سړی به پدې شنه سهار څه را وړی وی داهم ټولو ته معلومه ده چه داسړی دخلقو څخه یوګوښه او کناره سړی دی، دچاسره علاقه او ګډون نکوی، دا ځکه چه شتمن اوغنی دی دی، د دغوخوار انو او مسکینانو دطبقی څخه نه دی چه داختر دورځی خپله حلوا خیرات کړی او نوره حلوا نه ورموجو دیږی نو ته وائی دی به څه شی راوستلی وی سره لدی چه دی هغه سړی دی چه ددې کور څښتن ته به په مخه ورغی اودډیره کبره او لویی څخه به ئی سلام نه وراچاوه....دی به تل بړوس ؤ او په تروه تندی به ګرزیده اودډیره تکبر څخه به ئی انسانانو ته مخ نه وراړا وه نونن ورځ څه شی دی کور ته را وستلی دی؟ او داټوکرۍ بیادڅه شی ده چه په غورس اوپند کاغذه کښې ئی نغښتی ده ددی متبکر او بړوس همسایه په ژوندون کښې دایولوې تطوردی.... نه ورته پهېږم چه څه کیفیت دی ؟نن سهار بی بی ماستاوضعیت ولیده نو ستا ښې عاطفی ،اولوړ احساس، عجیب ایثار زه ډېر متاثر کړم ، اوخورامی خوښ شو. ..... !

— عفوه غواړم ...ډېر تشکر کوم .

— زه نه یم خبر ښائی چه زه دی تېر وتلی یم .

— په څه شی کښې دی تېرو تلی ئی ؟

— زما په خیال کښې ؤ چه دهغی حلوا پرځای چه تاسی دهمسایه کچنیا نوته خیرات کړه تاسی ته نوره حلوا راوړم ..... مګر څو ورځی کیږی چه زه خبر شوی یم چه ستا ښاغلی څښتن دیوې خطا په واسطه چه کړې ئې ده د خپله مامو ریته څخه موقوف شو یدی ..... او تاسی به هر ومرو په ژوند کښې تنګ شوی یاست ..... نو که مهربانی وکړی او دالږشانته روپۍ را څخه قبولی کړې زه به ډېر ممنون شم پدې موقع کښې ..... دمور پرسترګو توره تیاره شوه او د نیائې په سترګو ټوله تیاره ورغله، اودسهار راهیسته چه ئې ځان ډېر نیکمرغه او دخدای لایقه په خیال ورتلی ټوله ئې هیر شوه او دخوا او خاطره څخه ئې وواته ..... اود میلا د داختر هوس اوخوشحالی ئې په غم اوویر اونامیندې الیشه شوه.

— ته څه وائې ته بیا و وایه ؟

— زه وایم: ماستا وضعیت چه سهار تا د بې وزلی کورنۍ د کچنیانو سره وکړ ولیده او ډېر ئې متاثر کړم ، سره لدې چه ته یخپله هم په ژوندون کښې په تنګ ئې او مالی حالت دی ښه ندی .

— ښه نو ستائې څه زه چه په هر حالت کښې یم ؟ سړی وارخطا شو، اوژ به ئې ګنګوړه شوه، یه ..... یه ... .زمائې هیڅ نه ... صرف زمامقصد ستا سره مرسته اومعاونت دی !

— په هر صورت زه ستاڅخه تشکر کوم ، مګر یوه پوښتنه در څخه کوم : چه تاسی بډایانو ته ښېګڼه او نیکی پدغه ډول در معلومېږی ؟

— ستا په وینا ونه پوهېدم چه څه دی راته وویل ؟

— زما په خبره چه نشوې پوه ، نو په دې څه ډول پوه شوې چه مونږ محتاج اواړیو او په دې نه پوهیږی چه زمونږ بی وزلی همسایګان ستا غوندی کسانو مرستی اومعاونت ته خورا سخته اړی اوشدید احتیاج لری .

— حق وائې ... داخبره دی حق ده بې شکه .... بی شکه ښه وائې !

— نو که دازه حق وایم .... نوولی عمل نه په کوې ؟

— خطامی کړیدی ، پرناحقه یم .

— ښه اوس نو پدې ټوکرۍ کښې تامونږ ته حلوا راوړیده ؟

— هو ..... حلوامی راوړیده !

— ته نودې نه څه شی مجبور کړې ؟

— دخیر اوخیرات محبت ، ستاسی هغه وضعیت زه متاثر کړم چه دبې وزلی همسایه سره موو کړ .

— ښه نو ته زمونږ دهمسایه په خوارۍ او مسکینی ولې نشوې متاثر؟

— والله که ورته پوهیږم !

— اوس نو داټوکرۍ هغې ته وروړه چه خو راورته

«نور په ٤٥ مخ کښې»

مطبوعاتی نوی

د اریانا دوهم کال

د آریانا مجله چه د خپلو مهمو نشریاتو په اثر کښې ښکاره اهمیت او زیات قیمت لری د جدی د میاشتی له ګڼی څخه ئی دوهم کال شروع شو او خپل امړی کال ئی په ډیر موفقیت او ښه ډول سرته ورساوه یعنی څنګه چه توقع کیده هغسی مهم موضوعات ئی میدان ته را وایستل او د وطن د تاریخ په شاوخوا کښې ئی ښه ښه خدمتونه وکړی شوه، په همدغه منسبت د دغی نوموړی او لوړې مجلی فاضل موسس او مدیر ښاغلی احمدعلیخان (کهزاد) ته د تیر کال د موفقیت او د نوی کال د نوی کیدو تبریك وایو او له لوی څښتن څخه د دې مجلی ټولو لیکونکو ته نور موفقیتونه غواړو چه اریانا د دوی په فکری او قلمی معاونت خپل مطبوعاتی وقار او اعتبار په ډیر ښه شان وساتلی شی او ورځ په ورځ خپل اهمیت دلو ستونکو په نظر کښې نور هم زیات کړی.

(د صحافت څانګه)

« پاته د ٤٤ مخ »

محتاجه ده، او دا هم مه هیروه چه هر څه مال چه دې مونږ ته تر زړه ایستلی ؤ هغه هم هغې ته ور کړه . . . . .

— دغسی به وکړم! اجازه را کوې چه ولاړ شم؟

— یه..... یو کړی ودریږه! آیا پرتا «یسوع» ګران دې اې ښاغلې؟

— څنګه ندې را با ندې ګران؟

— نو چه دربا ندی ګران دی، د خپله ماله څخه یو څه زمونږ د همسایه د جامو د پاره چه بدن ئې په پټ شی جدا کړه.... ته خو ډیر شتمن ئې ..... او دا به نه وی درمعلومه چه مېړه ئې مړ دې او خواره کونډه هم ده ....

— یه... والله که ئې د مېړه مرګ را معلوم ؤ .....

— اوس نو د خپله ماله څخه یو څه ددې او ددې د اولاد د پاره وټاکه.... خبر نه ئې چه نن ئې شپږم زوی هم زوکړیدی؟

— یه قسم دی که خبریم.... دغه دی چه ستا د خولی څخه خبر شوم!

اوس نو زه هغونه روپی چه دا ورته محتاجه ده ستا د ماله څخه ستا په اورغوی کښې وینم چه ته او ستا غوندی نور بډایان ئې باید بې وزلو او خوارانو ته ور کړی .

— .... ؟ .....

— اوس نو ولاړ شه! زه به ئې هم نن وو ینم چه تا څه ور سره کړیدی .

❀ ❀ ❀

شتمن او دلو ئی بډائی او هسك ثروت څښتن ولاړ . . . . مګر . . . . خپل کالته یو ه ګړی وړو سته د کور څښتن دروازه وټکوله او مخ ئی د خوشحالی څخه روښانه او شونډی ئی د خندا او مسکتیا څخه نه سره ورځی او پر خپلی مېر منی ئی زېری وکړ، چه دی بری الذمه راوؤت، او بیرته پر خپل کار مقرر شو، او یو څه روپی هم د مکافات پډول ور کړی شوې ....او خپلو هلکانو ته ئی ډېره حلوا، ډېر د بازیو او نو بوشیان د میلاد د اختر د پاره راوړی دی . . . . . .

چه د سهارنی وضعیت قصه ئی چه دوی د خپلی بی ورلی همسایه سره کړی ؤ سره د بډای همسایه د کیفیته ور ته ووایه، ډیر متاثر شو او په ستر ګو کښې ئی او ښکی ورغړیدی « اوس دی نو هغه ښځه سره د خپلو اولادو نو زمونږ کره اوسی » (انتها)

دالفونسکار اثر

ماگدولینه

(۱۲)

داډوارډ مکتوب اسټیفن ته

مترجم ښاغلی «بینوا»

زما او دا کا شخړه سره نښتی ده ، ځکه چه دی ماوا داره کوی چه په سختۍ او امساك سره ژوند وکړم او نه می پریږدی چه دخپل پلار مال چه په میراث راپاته شوی دی په خپله خوښه خرڅ کړم نه ورته پوهیږم چه دا سړی ولی دپردی مال په خر څولو کښې چه په ده هیڅ اړه هم نلری دومره حرص څرګنده وی او څله دد سی شی په باب کښې بخیلی کوی چه دی شی دخپل اصلی څښتن سره هم وفا نه ده کړی ؟

مګر دا کار پخپله د د ه تقصیر هم نه دی ځکه چه بخل اولئیم والی ئی په خټه کښې اخښلی شوی دی او طبعاً دبخیل همت اودلئیم طبع لری او ته خو پوهیږی چه دبخیلا نو دارشه ده چه هر څه و مومی که په ده اړه ولری او که ئی ونه لری خپل ځان ته ئی را کشوی اودانی مار په څېر سینه باندی اچوی ، که څه هم شخصاً استفاده نشی ځنی کولای بیا هم دهغه په سا تلو کښې زیار باسی .

مګر لږ وخت لا پاته دی چه دده داختیار او کالخوالۍ دوره پای ته ور سیږی ، ځکه چه تر څومیا شتو وروسته مامېړانه وهی او نور به نو دی په کفالت و نه منم او هیڅوك نه پریږدم چه زما په کارو کښې لاس ووهی اسټیفنه ! په اوسنی حال دی لږلږ خبر یم ، او پوهیږم چه تاله خپلی کورنۍ سره زړه بد شوی او ددوی او امروته دی سر نه دی ټیټ کړی ځکه نو دوی ته له ځانه لیری کړی او تاته ئی دمرستی لاس نه دروغځاوه او ته ئی همداسی پرېښوولی او له همدی کبله دکو بلانس څخه «کوتنګ» ته راغلی چه په کوم کار اخته شی او ځانته روزی برابره کړې ، مګر ترننی ورځی پوری دی لا پر خپلی آرزو بری نه دی مو ندلی .

زما ګرانه دوسته ؛ کاشکی ته داسی نه وای لکه چه اوس یې — او زما په پخوا نیو ویلو دی عمل کړی وای ، یعنی له دی خیالی او شاعرانه ژونده و تلی وای او هغه نجلۍ چه دوی درته ټا کلی وه تا په نکاح کړی وای او دهغی دبډ ایۍ په مرسته دنیکمرغۍ او سعادت غیږی ته رسیدلی وای .

زړه ته راتیر دوسته !

په دنیا کښې بې له بډائۍ او ثروته دهیڅ سعادت او نیکمرغۍ مخ څوك نشی لیدلای ، او دا خبره ومنه چه بشر هر څه پوهنه او عقل چه په سر کښې لری او هر واك او قدرت چه په بدن کښې لری او هر فضیلت او ښېګڼه چه په اخلاقو کښې لری دا ټولی لاری ددې دپاره وسیله دی چه بډائۍ او ثروت ته ورسیږی .

نور نو خپل دزړه د کومی سلا مونه تاته وړاندی کوم او هیله لرم چه ژر به په «کوتنګ» کښې ستا په لیدو مشرف شم ، ځکه چه دا کا سره می کار سخت شوی دی او نور نو نشم کولای چه یو ګړی هم له ده سره په یوه ښار کښې واوسم .

داسټیفن مکتوب اډوارډ ته

پرما ګرانه دوسته ! که ووایم چه په ژوندون کښې زما نظریه ستا او دنورو خلکو له نظریو سره مخالفه ده . البته ماته مه در دیږه !

زه په ژوند ون کښې بې دنفس له سعادته وبل هیڅ سعادت ته قائل نه یم . بډائی او ثروت می هیڅ پکار نه دی مګر که ئې غواړم هم یوازی دهمدې سعادت دپاره .

نو که دا کار بې بډائۍ لاس ته راشي نور نوزه مال ته اړنه یم او که لږ هم ومو مم ډېر نه غواړم .

که داسي ورځ راشي چه زه مخ ر او گرزوم او هغه څوک چه زه ئې غواړم ونه وینم او دهغه په ځای داسي څوک ناست وي چه زما هیڅ کار او علاقه ورسره نه وي ، نو په هغه ورځ بډائې او ثروت ماته څه گټه رسوي او داسي تمول به ما د کم سعادت او کمي نیکمرغۍ غېږي ته ور ولي ؟

هغه سړي چه ښځه د بډائۍ او مال په هیله کوي په حقیقت خائن او بدلمني غل دي ، ځکه چه د ښځي مال د خپلوۍ او محبت په نامه خوري او باندي گرانه نه ده ، بل لا دا چه وز گار ، فارغه ناست وي هیڅ زیار نه باسي په ناز او نعمت پیل کوي او تل دې ته منتظر وي چه بې وزلي ښځه ئې وساتي او دده سر پرستي وکړي . دا ډول خلک شرافت او مېړانه نلري ، ځکه چه دوي هم لکه هغه بدلمني او فاجري ښځي چه د روزۍ د تحصیل دپاره پر نارینه و ، ځانونه خرڅوي ، خپل ځانونه د همدې مقصد دپاره پر ښځو خرڅوي .

هو کي ، لکه ته چه وایې زه بې وزلي ، فقیر او بد بخته یم مگر دا بد بختي ماله کاره نشي منع کولای او یو گړي له زیاره لاس نه اخلم او بې کاره نه کښېنم . برایي مي د خپل زیار لمړۍ نتیجه وموندله ، او یو کار راته پیدا شو چه اوس دستي ئې گټه او معاش لږدي مگر ژر تر ژره به ډېر شي . اوس مي یو لوی اطاق اجاره کړي دي او ځانته د یو مخصوص کور څښتن شوي یم .

هیله مي شته چه ژر به مي دا د نحوست او بد بختۍ شپه تېره شي او د سعادت او نیک مرغۍ لمر به مي راوخېژي . هغه وخت به نو زما خوښۍ او سرور یو په زره وي ، ځکه چه د سعادت او افتخار خول به مي د خپل مټه په زور گټلي وي نه د نورو په ذریعه ..!

اډ وار ډه ! زما صمیمانه او د زړه د کومي سلامونه او مینه قبوله کړه او په هغه څه کښې چه مي ځانته لیکلي دي پر مامه در دېږه .

هیله لرم چه خپله وعده پر ځای کړي او ژر په کوتنک کښې سره ووینو .

د استیفن خونه

استیفن ته چه نوي کار پیدا شو نو یو اطاق ئې اجاره کړ ، د دې اطاق اوږدوالی لس پله (قدمه) او پسور ئې اوه پله و ، د اطاق یوې خوا ته ئې د لرگو کټ او بلې خوا ته ئې امانت میز ایښي و ، چه د شپې به ئې څه باندي لیکل او دورځي به ئې باندي ډوډۍ خوړله ، او سر بیره پر دې ئې دوې مختلف الشکله چوکۍ هم درلودې چه یوې باندي کښېناستي ، او پر بلې باندي به ئې خپل کالي ایښوول یو منقل ئې د پخولو دپاره او یو منگي ئې د اوبو د پاره درلود او څه لږ نور لوښي هم پدې اطاق کښې لېدل کېده .

دې اطاق څو پنجري او کړکۍ درلودې چه د هري کړکۍ خوا ته ئې څو زاړه سرایونه وه چه هیڅوک نه پکښې اوسیدل او هر کله چه به استیفن کمي کړکۍ ته نژدې شو او دا بیرونکي منظره به ئې ولیده ، سره وبه ریږدیده او له ځانه سره به ئې ویل :- « پروانه لري ، دا منظر نسبت وهغه حال ته چه څوک زما د یوازېوالي او تنهائۍ مخل کیږي ډېر ښه دي ! » بیا به ئې خپلي سترگي د هغه لوی باغ خوا ته چه په یوه لیري کور ئې اړه درلوده واړولې او ویل به ئې :-

« هر سهار مي سترگي پر دې باغ نښلي ، مگر نه پوهېږم چه خاوند به ئې زما په څېر د دې باغ له منظره خوند اخلي که یه ؟ » دده د ځای له څنگه یوه کوچني کلیسا وه او چه استیفن به د هغې مناره ولیدله د ځانه سره به ئې ویل :

« هیله مي ده چه د دې کلیسا د گړیال زنگ به دوختو په ټاکلو کښې زما سره ډېره مرسته وکړي . » لا ئې دا خبره پای ته نه وه رسولې چه د زنگ آواز پورته شو او د هغه دوهلو دارویدو څخه بیخي ډېر خوش او مسرور شو ، نو وې ویل ، - ډېر ښه شو ، نور نو تر دې وروسته د ساعت را نیولو ته اړنه یم ! »

له هری خوا

دقهوې فائدی

کافی قهوه : په کافی کښې اصلی ماده « کیفین » نوم لری چه د سائنس په اصطلاح کښې دغه مادی ته « ترائی بتهائل آکسی پیورن » وائی ځینی پوهانو دغه ماده له کافی څخه جلا کړی ده او دغه ماده دستنی په شان نری او تکه سپینه ده . ډېر خلك دغه ماده مضره گڼی اوله دی کبله د کافی استعمال هم مضر بولی ، لیکن څه موده پخوا د امریکی « یوهاننگسورتهه » نومی پروفیسر دخپلو تجربو په لړ کښې دی نتیجې ته ورسید چه کافی استعمال ښه او مفید دی او کافی دانسان عضلات د خپلی وظیفې ادا کولو ته چمتو اوا ماده کوی اود انسان په وجود کښې د کار استعداد پیدا کوی ، او که داعتدال په دائره کښې دننه دننه داشی استعمال کړشی نو ښه اومسکن شی دی .

دراپریوتونکی انسان د رفتار اندازه

که یو انسان بی له پاراشوت څخه دطیاری کښته ځان راوغورځوی نو په دی صورت کښې به دهغه درفتار اندازه په ساعت کښې (۱۱۵) میله وی اوله دی څخه دانسان رفتارنشی زیاتیدلی که څه هم دا منل شوی خبره ده چه د هر راغور ځیدونکی شی رفتار په ثانیه یعنی سترگه رپ کښې ۳۲ فټه زیاتیږی لیکن کوم مارغه چه دوه اونسه وازگه لری نو هغه باید داخبره ښکاره کړشی چه انسان په دی قاعده کښې له نورو اجسامو څخه مستثنی دی په دی سلسله کښې ځنې خلك دا خیال لری چه د کښته راغور ځیدلو په وخت کښې انسان ارومروله دی کبله بی سده کیږی چه سرئی کښته شی او وینه ئی په دماغ باندی فشار راولی لیکن دنو وتجربو څخه داخبره ثابته شوېده چه ددغه بی سدی سبب صرف یره وی اوبس .

❀ ❀ ❀

ددغی وازگی په قوت (۲۰۰۰) میله الوتلی شی .

دویښتانو برش چاایجاد کړیدی ؟

د ویښتانو برش هغه چینی جنرال ایجاد او اختراع کړی دی چه د چین مشهور دیوان د هغه د نگرانی او کتنی لاندی جوړ او تیار شوی دی .

(دنیو یارك غواگانی)

دامریکی په نیویارك نومی ښار کښې ۲۷۰۰ غواگانی دی چه ددغی غواگانو شودی ددغه ښار دخلکو بس کیږی .

شات او کوچنیان

داکترجی کومی د خپلو پلټنو په لړ کښې دی نتیجی ته رسیدلی دی چه د کوچنیانو دپاره دشاتو خوراك ډېر مفید دی دغه داکتر دانظریه لری چه دشاتو په ذریعه د کوچنیانو وجودته د « کار بوهائیډریت » کیلسیم او حیاتین (ب) ماده په کافی مقدار دا خلیږی « او برسېره پردی شات فاسفورس او فولاد هم په کافی مقدار لری » په ټولو انسانی غذا گانو کښې یوازی شات داسی شی دی چه په مود ومودونه خرابیږی .

دغه داکتر لیکی چه که په کومو کوچنیانو دوچکی مرض لگیدلی وی اوهغوی ته په ورځ کښې یوه قاشقه شات په تاودوشو دو کښې ور کړشی نودغه دوچکی مرض به ئې بالکل ورك شی اووجود به ئې داسی وده وکړی چه خلق به ورته حیران پاته شی اودغه داکتر کوچنیانو ته دشاتو دورکولو توصیه کوی

NOV 2-1949

پښتو ټولنه

څه کوی؟

تشکر

ځکه چه ع، ج داخله وزیر او ع، ص دامنیې رئیس په هغه وزارت کښې خپلو مامورینو نه امر صادر کړی، دی، چه حتی المقدور ځنی مکتوبونه اوټو له رقعې په پښتو ولیکی، نو دهغه لوړ وزارت له دغه اقدامه پښتو ټولنه تشکر کوی، او ددوی توفیق دملی ژبی په مزید خدمت کښې له خدایه غواړی.

دلغاتو دڅانګی نوی آمر

ښاغلی محمد گل خان «نوری» دپښتو ټولنی دتألیف او ترجمې دڅانګی مدیر، دمطبوعاتو د مجلس په ټاکنه دلغاتو دڅانګی په مشرتوب مقرر شوی دی، چه دپښتو لغاتو په ټولونه اوترتیب اوتهذیب کښې زیارو کاږی. اوهم د دائرة المعارف لپاره مواد اولغات ټول اوسره راغونډ کړی.

د دائرة المعارف دمضامینو ترجمه

ځکه چه ددائرة المعارف مضامین ډېرغونډ شوی، او له مختلفو ژبو څخه ترجمه شوی دی، نو دپښتو ټولنه د دائرة المعارف په عمومی مدیریت کښې څوتنه فاضل لیکوال ټاکلی شوی دی، چه هغه مضامین په پښتو ترجمه کړی.

داد ترجمې کار دښاغلی رښتین اوښاغلی الفت تر نګرانی اوکتنه لاندی شروع کېږی، او مخصوصاً علمی مضامین ترغوراو کتنی لاندی راځی.

دپښتو کورسو پلټنه

دپښتو ټولنی دکورسو دپلټنی مؤظفو مامورینو دجدی (له ۱۵ تر ۳۰) دکابل دښار اونژدو اطرافو (۱۷) کورسو نه کتلی، اونواقص اولو ازم ئې مربوطه مقاماتو ته خبر ور کړشوی دی.

دپښتو کورسو ازموینی

دجدی په میاشت کښې دپښتو ټولنی دکورسو داز مویو نکوله خوا ددغو کورسو امتحانونه اخیستل شوی او نتایج ئې مربوطه مقاماتو ته لېږل شوی دی:

۱ ـ دمرکزی قواو لمبر ۱۲۰	کورس	اعلی	۵	تنه	عالی	۶	تنه	ښه	۹	تنه	ناکام	۱۰	تنه
۲ ـ » » » » ۲۴۰	»	»	۱۵	»	»	۱۵	»	»	۱۱	»	»	۶	»
۳ ـ » » » » ۲۰	»	»	۱۲	»	»	۱۶	»	»	۷	»	»	۳	»
۴ ـ دسرماموریت پولیس لمړی	»	»	۱۱	»	»	۸	»	»	۵	»	»	۹	»
۵ ـ دمرکزی قواو لمبر ۳۰	»	»	۳	»	»	۴	»	»	۱۲	»	»	۱۷	»
۶ ـ دکابل دولایت دمامورینو	»	»	۱۱	»	»	۷	»	»	۵	»	»	۸	»
۷ ـ دحقوقو دفاکولتې	»	»	۵	»	»	۳	»	»	۷	»	»	۵	»
۸ ـ دحمل ونقل	»	»	۵	»	»	۱۰	»	»	۷	»	»	۳	»
۹ ـ دطبی فاکولتې	»	»	۳	»	»	۲	»	»	۲	»	»	۷	»

ټوکی ټکالی

خر

(۱)

د «ماتهاس کلودلوس» په قلم:

هیڅ نلرم، هیڅ نلرم چه په هغې زه خپل زړه خوشحال کړم. بی عقله او بی ډوله بدفواره یم، نه زړه ورتیالرم؛ او نه په ما کښې د شجاعت کوم اثر شته؛ د بشر ټول لوی واړه ماته په سپکه سترګه ګوری او په ما پوری خاندی؛ دوی له ما څخه کر که کوی، نه تو د او ګرم یم او نه سوړ او یخ.

(۲)

هیڅ نلرم او هیڅ نلرم چه په هغې زه خپل زړه خوشحال کړم. نا پوه او بی ډوله یم؛ او باید واښه او خځلې وخورم؛ د کتې او ځل لاندی لوی او زوړ شم.. اخ چه طبعا زه د درد او الم د پاره پیدا شوی یم؛ ماته هیڅ رانکړی شوه او نه می څه پر برخه شوه؛ کوم شی چه زما په برخه شوی دی هغه فقط او یوا ځی ز ما خوږ او ښا یسته آواز دی.

رالیژونکی «ج، آریزوی»

خو آس او ګاډی پاتیږی

یو خورا دروند او پنډسړی په یوه ګاډی کښې سپور شو ځکه چه ګاډی ورو ور و تله، او آس هم ژرژر نسوای تلای، او ضعیف وو، نو سپاره له ګاډی وانه پو ښتنه وکړه:

آیا مونږ چانک چانک نسوای تلای؟ ګاډی وان ولی نسو تلای؟ خو که مونږ ژرژر ولاړ شو، ګاډی او آس پا تیږی! ؟.....

تاریخی ټوکه

وایی چه د حال صفار وروستنی یا چهان په سیستان کښې دونی ضعیف شول، چه هر یوه به هره ورځ د زرنج ښار نیوی، بیا به لږ ورځی وروسته ځنی ووت. یوله د غو څخه د هفتی په منځ کښې راغی او ښار ئی ونیوی، او امر ئی وکړ، چه د هفتی په منځ کښې د ده په نامه خطبه ووایی، خلقو ورته وویل، چه خطبه د جمعې په ورځ ویله کیږی.

ده وویل: خدا خه چه د جمعی تر ورځی زه یم که یه

(تاریخ سیستان)

یادونه

دکابل مجله له تولو لوستونکو ، اوداخبارو اوتجلاتو له خاوندانو څخه هیله لری ، چه که کم مضمون له دې مجلې څخه اخلی ، حواله دی ورکوی.

(دصحافت څانګه)

دکابل ګالنی

۱۳۲۱

له تاریخی ، ادبی اواجتماعی مقالوسره مصوره اوښکلې نشرشوې ده

له پانوځی څخه ئی رانیسیء قیمت: کاغذی وقایه والا (۲۲) افغانی

کپرهئی « « (۲۵) «

د ۱۳ کال پای

په دې ګڼه د کابل ۱۳ کال پای ته ورسیدیء ، بناغلی مشترکین دی له نوی میاشتی څخه د (۱٤) کال دپاره اشتراك وکړی.

КГ